
# پښتو !

# ستا میني بوداپیست ته بوتلم

( سفرنامه )




لیکوال

محمد معصوم هوتک

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مازيګر و، چي داروانښاد خواجه محمد " فيض " دمغفرت له پاره مود وروستي ځل له پاره ددوعالاسونه پورته کړل اودسيدجمال الدين افغاني له مسجدڅخه راووتو. خلک غولۍ غولۍ کېدل. ټاکل سوې وه دنيويارک په لانګ آيلينډ کي به په هغه مېلمستياکي ګډون کوو ، چي دعلامه رشادپه وياړدهغه ديوه مخلص وطنوال فيض الرحمن له خواجوړه سوې. اصلاً موږد علامه رشاد په ملګرتياله ويرجينيا څخه دهمدې مېلمستياله پاره رارهي سوي و،چي دخواجه مرحوم په پاتا باندي وروسته خبرسوو. دخلګوپه ګڼه ګونه کي ډاکټرتوريالی اميري زما خوا ته راغی اوراته وېويل: " ډاکټرحبيب الله حبيبي درته منتظر دئ. ته به له هغه سره په موټرکي ولاړسې." ماورتــه ښه کړه اوځان مي د ډاکټر خوا ته ورساوه. لانګ آيلينډ ته مودتګ په لارکي له يوې خوا او بلي خوابښه تودبانډاروکړاودهغه په ترڅ کي يې راته دپټې خزانې ديوې بلي نسخې دسته والي خبره وکړه اووېويل چي دانسخه په هنګري کي خوندي ده.

له ځان سره مي وويل: دپټې خزانې ټيکه داري لکه چي زماپه پچه ختلې ده، هرڅوک چي په دې باب څه واوري، تر ماپوري يې رارسوي. ددنياعجب نظام دئ .چاته له نيکه ګانوڅخه باغونه وجايدادونه وخزانې پاته سي، چاته شخړي و بدۍ وپيکړې. د خدای (ج) احسان دئ چي ماته له نيکونوڅخه بدۍ نه دي راپاته، خو خزانه ! راپاته ده. داخزانه پټه ده، له جنجاله ډکه ده، څوک ورته د شک وترديد په سترګه ګوري، په خزانوکي يې نه شميري، سره زريې نه ګڼي، وايي کوټ په ګډ سوي دي، .... زه دنيکونوخزانې کله کله په جنجالوکي ښکېل کړی يم. داخزانه که دتصادف له مخي زما له کورنۍ سره تړل سوې ده، خوچي رشتيا سي په عامه شتمنيوکي هم راځي. يوه خبره چي مي تل په زړه کي راګرزي هغه داده چي داخزانه که زردي، که کوټ. دبل چايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه ؟ ماخو دنورو په خزانو کې دلاسوهني حق هیڅکله هم ځان ته نه دئ ورکړی. هرڅوک پوه سه ، خپلې خزانې یې.

زه پټه خزانه دربنیم ، هغه کتاب چي دتاریخي تسلسل په حکم زمانوم ورسره تړلی دئ . پټه خزانه زما دمشرنیکه حاجي محمداکبر هوتک (۱۲۳۸ ـ ۱۳۱۷هـ ق) له پاره استنساخ سوې ده ، داروانښاعلامه عبدالحي حبیبي (۱۲۸۹ـ۱۳۶۳ش) په لاس خپره سوې ده . تر خپرېدلو او عامېدلووروسته یې مخالفین اوموافقین موندلي دي . په تایید اوتردیدکي یې کتابونه لیکل سوي دي اوزه هم دخانداني روایتو او ځینومجبوریتوپه حکم ددغه اوږده خوجنجالي جریان دیوه برخه وال په توګه پاته سوی یم . ماهم دپټې خزانې په باب لیکنې کړې دي اودپوخ کانې په نامه مي یوکتابګوټی هم په ۱۹۹۲ع کال لیکلی اوله کاناډا څخه خپورکړی دئ . دپټې خزانې په برخه کي زمادریځ له هماغه اول پیل څخه دنوروله دریځونو سره توپیردرلوداولري یې . زه هیڅکله پټې خزانې ته دیوه مقدس کتاب په سترګه نه ګورم ، چي خبري کول اوکره کول دي یې یوه لویه ګناه وي . زه پټه خزانه دپښتوژبې اوادبیاتو د پخواني تاریخ یوه کړۍ بولم ، نه ټول تاریخ . دنقداوکره کتني وړیې بولم اودناسمو روایتولرونکې ګڼم. زه دپټې خزانې په نامه دیوه کتاب دموجودیت مدافع یم ، چي زموږپه کورنۍ کي خوندي ساتل سوی و ،نه دهغې دمحتویاتوعام وتام دفاع کوونکی . زه داخبره له امکانه لیري نه ګڼم چي په پټه خزانه کي به دکاتبانو، ناسخان او کاپي کوونکوله خوا لاسوهنه سوې وي اولکه په نوروډېروتاریخي او ادبي متونوکي چي ددغه رازلاسوهنوخورازیات مثالونه ستته ، په پټه خزانه کي به هم وي. لکه په نوروتاریخي متونوکي چي ناسم روایتونه ستته ، په پټه خزانه کي به هم وي. زه دپښتانه اوپښتو ژوند هیڅکله له پټې خزانې سره تړلی نه بولم . پټه خزانه دپښتویومهم کتاب دئ خو پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پښتنانه له پټي خزانې پرته هم ژوندي وه اوژوندي به وي ، خوا ړه ادبيات يې درلودل اولري به يې . ددغه شان دريځ په درلودلوسره مي هروخت تلوسه وي چي که ددې اثريوه بله نسخه وموندل سي ، لږترلږه به د مسئلې يو اړخ له خرخښې ووزي اود پښتوادبياتوتاريخ ليکونکي به په پوره زړه ورڅخه استفاده وکړي . زماپه دغه شان هيله او اميد باندي زماليري اونژدې دوستان خبرهم دي . دوی چي هروخت دپټې خزانې په باب په کوم باوري يانا باوره انکشاف باندي خبرسوي دي ، ماته يې حال راکړئ دئ . زه يې په جريان خبرکړی يم . ښه داخبره به پرهمدې ځای پرېږدم.

خبره لانګ آيلينډ ته دمېلمستياپه باب وه خوزماڅخه پربله ولاړه . مېلمستياتېره سوه . په هغه وخت کي په افغانستان کي دطالبانو واکمني وه،استاد(رح)دطالبانودراتګ اوموفقيت عوامل وڅېړل اود طالبانوترراتګ وړاندي يې د افغانستان دتجزيه کېدلوخطرات بيان کړل اودځوانانوپوښتنوته يې جوابونه وويل. زه په نيويارک کي ترڅو ورځوتم کېدلووروسته کاناډا ته ستون سوم .(له علامه استادسره دا زما وروستی ديدن و ) . په کاناډا کي مي څوورځي وروسته دډاکټر حبيب الله حبيبي له خواداايميل له لاري ځيني ليکونه اويادوني ترلاسه کړلې ( ۲۵سپتمبر۲۰۰۳ع ) او په هغوکي يې راته ليکلي وه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



Dear Hotak:

Here are Dr.Katona’s postings on the internet and two emails to me: Her name on The Afghan Forum was Lea or Lea2 .

ترجمه:

ګرانه هوتکه:
دادي دډاکټرکاتوناهغه موادچي په انټرنيټ کي يې خپاره کړي دي او دغه رازهغه دوه ايميله چي ماته يې رااستولي دي. ددې نوم په افغان فوروم کي (Lea) يا(Lea2) دئ.

---

تردې وروسته يې دالاندي معلومات راکړي وه، چي زه به يې کټ مټ له تصرفه پرته له ترجمې سره راوړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



Dear Estragon,

The existence of this book already than a century well-known for Europan orientalists.

The only problem that its item title is not Pata Khazana, it is along with some Persian fragments, with Herati copy of Gengiz Nameh (known here as the secret history of the Mongols). So, who is not familiar with the collection, can find only by chance. I found consciously, well-known Hungarian orientalists and historians attracted my attention.

ترجمه:

ګران استراګون ،

ددغه کتاب موجوديت اروپايي ختيځپوهانو ته نزدې يوه پېړۍ کيږي ، چي پوره څرګند دئ.

يوازنی مشکل دادئ چي نوم يې پته خزانه نه دئ ، هغه له کوم فارسي اثر ، دچنګيزنامې ديوې هراتۍ کاپي سره يو ځای دئ. داکاپي دمغولو دپټ تاريخ په نامه ياده سوې ده. څوک چي له دغه کلکسيون سره بلد نه وي ، هغه به يې په ناڅاپي توګه پيدا کوي. ما د يوڅرک له مخې هغه وموندله . دهنګري ښومشهورختيځ پوهانو او مورخينوزماپاملرنه هغه لورته وروا ړوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Originally posted by Lea2:

Dear Matinjan and Dear Brother Logari,
I should like to inform you that Pata Khazana has a nice, early manuscript in the Oriental Collection of the Library of the Academy of Science of Hungary. No doubt, this is original. Everybody is welcomed who wants to see it, I should like to guide there any Forum member with pleasure.
This is from the collection of Prof.Vambery, donated the library in the XIX century. I ensure all of you, that time there was no Afghan in the Austrian-Hungarian Monarchy- and Hungarian weren't interested in falsification of Pashto linguistic memorials.

ترجمه:

ګرانه متين جانه اوګران ورورلوګري،
زه بايد ستاسي ترغوږه دورسوم ،چي دپټي خزانې يوه ښکلي پخوانۍ نسخه دهنګري دعلوموا کاډيمۍ دختيځونسخوپه کلکسيون کي سته .دانسخه بېله شکه اصلي نسخه ده . هرڅوک که يې غواړي ووينې ، خدای دې راولي . زه به دفوروم هرغړي ته په خوښۍ سره لارښوونه وکړم.
دانسخه دپروفيسرويمبري له کلکلسيون څخه ده چي په نونسمه پېړۍ کي يې کتابتون ته بخښلي و. زه تاسي ټولوته ډاډ درکوم چي په هغه وخت کي په اتريش ــ هنګري پاچهۍ کي کوم افغان نه واود هنګري خلکو ددپښتوژبنيوآسارو له جعل کولوسره کومه دلچسپي هم نه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Lea,
I wrote an email to Sánta Zoltán – to the Academy of Science in Budapest, and I was told that there is no such a book in that place.

Here, you can call them –this is the phone #:
Tel: (1) 302-0456

Or you can write them a letter:

Magyar
Tudományos
Akadémia
H-1051 Budapest
Roosevelt tér 9.
(1) 411-6100

ترجمه:

لي ،
ماپه بوداپست کې دعلومواکاډیمی، سانتازولتان ته ایمیل وکیښ
اوراته وویل سوه چې په هغه ځای کې دغه رازکتاب نسته.

دادئ دهغوی دتیلفون نمبراوتاسي کولای سئ تیلفون ورو کړئ:
(۱) ۳۰۲ـ۰۴۵۲

که موغوښتل لیک ورولیږئ ، دايي پته ده:

Magyar
Tudományos
Akadémia
H-1051 Budapest
Roosevelt tér 9.
(1) 411-6100

(c) ketabton.com: The Digital Library



Lea2
Member posted 04-18-2002 01:45 AM

Dear Abu Sayed,

As well as I've promised hereby the catalogue and fond data of Pata Khazana.

Magyar Tudományos Akademia Konyvtara
Keleti Keziratgyujtemeny Vambery hagyatek
Katalogus szam: III.26.223 Fond szam: Vambery XIV/ 1869./3.

The address is the same as you know, the central building, Roosevelt ter. I should like to apologize because Hungarian punctuation is missing, but in my E-mail Hungarian orthography is interfering with Arabic. You wrote more exact, than me. I asked Mr. Santa. He is not orientalist and not responsible for the manuscripts of the library, he told, somebody asked him has the library any Pashto manuscripts, he responded that he has no idea. He is not the right person. Mrs. Csanak or Mrs. Horvath can assist you.

Have nice research. I can give you any kin of assistance only with one precondition: you must inform the Forum and all Afghans correctly about the result.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه:

ګرانه ابوسید ،

لکه څرنګه چي مي وعده کړې وه دپټي خزانې کتلاک اوفونډ داسي دئ:

Magyar Tudományos Akademia Konyvtara
Keleti Keziratgyujtemeny Vambery hagyatek
Katalogus szam: III.26.223 Fond szam: Vambery

پته يې هماغسي ده لکه تاسي چي ته درمعلومه ده. دروزويلټ په کوڅه کي مرکزي ودانۍ.
زه بخښنه غواړم چي هنګري نقطه ايښوونه راڅخه پاته سوې ده او زماپه ايميل کي هنګري املاء له عربي سره ګډه سوې ده. تاسي يې تر ماښه ليکئ. ما له ښاغلي سانتاڅخه پوښتنه وکړه. هغه نه ختيځ پوه دئ اونه هم دکتابتون دخطي نسخومسئول. هغه راته وويل: يوچا را څخه وپوښتل چي آيا په کتابتون کي پښتوخطي نسخې سته ؟ او ما ورته په جواب کي وويل چي زه نه يم په خبر. نوموړی اصلي شخص نه دئ. ستاسي سره يا مېرمن کساناک يا مېرمن هوروات مرسته کولای سي. په څېړنه کي دي برى غواړم. زه هررازمرسته درسره کولای سم خو په دې مخکيني شرط چي په نتيجه به يې ټول فوروم او افغانان خبروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Dear Sur Sahaak,

This manuscript had been donated by Prof. Vambery himself in 1885 to the Hungarian Academy of Science. By the legend, Prof. Vambery obtained it from Yaqub Khan, from Heart.

I have seen the manuscript before some years. I couldn’t examine carefully, but for me, it seemed complete. This is along with some other, fragmented Persian manuscripts. This is a XVIII century copy.

If you need any further information, I am at your service.

Best Regards

Dr. Nasrin (“Lea”)

ترجمه:

ګرانه سور سهاک،

دانسخه پروفیسرویمبري پخپل لاس دهنګري دعلوموااکاډیمۍ ته په ۱۸۸۵کي بخښل سوې وه. ده دهرات له یعقوبخان څخه ترلاسه کړې وه. مادانسخه څوکاله وړاندي لیدلې وه خوپه دقت سره مي ونسوای کتلای. ماته بشپړه ښکاره سوه. دانسخه له نوروفارسي نسخوسره ده اود اتلسمي پېړۍ کاپي ده.

که مونوروملوماتوته اړتیاوي، زه موپه خدمت کي یم.

په مینه.

ډاکټرنسرین (لي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



Dear Dr. Habibi,
This is the time to introduce Pata Khazana to Hungarian public. A magazine ordered from me an article to introduce the three manuscripts, focused on the manuscript of the Vámbéry collection. After the introduction of Pata Khazana to Hungarian public, after the edition of the article I can send you the requested some pages or comments for the Internet.
Surely I will send you an original copy of the article by post. Please write me, what do you know, in which circumstances did Professor Habibi find the first manuscript?

Respectfully Yours
Dr. Katona

ترجمه:

ګرانه ډاکټر حبیبي،
اوس ددې وخت دئ چې پټه خزانه دهنګري خلکوته وروپېژندل سي. یوې مجلې ماته دویمبرې دخطي کلکسیون ددریونسخودمعرفي کولوپه باب دیوې مقالې فرمایش راکړ. دپټې خزانې دمعرفۍ اود نومورې مقالې ترخپرېدووروسته زه کولای سم تاسې ته لازم مخونه یاتبصرې دانټرنیټ له پاره درولېږم.

دمقالې اصلي کاپي به هرومرو دپوستې له لارې درواستوم. مهرباني وکړئ، راته ولیکئ چې پروفیسر حبیبي لومړۍ نسخه څرنګه اوڅه رازوموندله؟

په درنښت
ډاکټر کاتونا

*********

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامعلومات راته ترلوستلووروسته ډېرډاډمن ښکاره نه سول ، نېخه چي ولي؟ خود سباورځي دخبرني له پاره مي راسره خوندي وساتل اوله ځانه سره وپتېیله ،چي ددې موضوع سپیناوی به کوم اوددې مقصد له پاره باید بوداپست ته یوسفروکړم . په همدې چورتونوکي وم ،چي ددعوت خپروني په ویبپاڼه ( ۲۸ حمل ۱۳۸۲= ۱۷مه داپریل ۲۰۰۷ع) کي مي د اجمل مقصودي په قلم په انګلیسي ژبه یوه مقاله ولوستله ، چي سر لیک یې (Pata Khazana- a response to its attackers!) و . ددې مقالې په یوه برخه کي په هنګري کي دبوداپست دعلوماکادیمۍ دخطي نسخودارمین ویمبري په کلکسیون کي دپټې خزانې دیوې نسخې خبره یاده سوې وه اومنبع یې هماغه د(Dr.Katona) معلومات وه چي دبوداپست په (Magyar Nemzet Magazin) مجله کي یې د۲۰۰۳ع کال دنومبرپر۲۲مه خپره کړې وه . ددعوت ویبپاڼې په دغه مقاله کي ویل سوي وه چي دانسخه ارمین ویمبري په ۱۸۵۹ع کال کي په هرات کي له یعقوب خان څخه ترلاسه کړې وه . دارمین ویمبري په باب یې کښلي وه چي:

مجارختیځپوه اوسیاح ،ارمین ویمبري په ۱۸۳۲ کال زېږېدلی و. تر لومړنیوزده کړو وروسته یې زیات وکم شل ژبې اولهجې زده کړلې . تهران اومکې ته یې سفرونه وکړل اوځومیاشتې یې دآسیاپه وچودښتو کي له درویشانوسره تېري کړې . دی خپلې آرزوته ورسېدا وخیواته له رسېدوسره سم یې له خان سره دوه واره وکتل . وروسته دبخاراله لاري سمرقندته ورسېد. هورې امیروربادي بدګومانه سواونیم ساعت یې له ځان سره وساته ،خودی ترازمویښت بریالی ووت اوامیرنه یوازي لـهٔ رشیدافندي ٌ څخه ( ویمبري په دغه نامه یادېدئ ) خوښ سو ، بلکي ښه زیات سوغاتونه یې هم ورکړل . دی وروسته زړه نازړه هرات ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړاو هورې له دروېشانو څخه بېل سو. په هرات کي يې له يعقوبخان سره

وکتل اوهغه ورته دپټي خزانې نسخه ورکړه. تردې وروسته ، ارمين ويمبري په يوه قافله کي تهران ته ستون سو اوپه پای کي د۱۸۶۴ کال په مارچ کي دتريبيزونداو ارض روم له لاري قسطنطنيې ته ورسېد.

*****

ددې مقالې داوروستۍبرخه راته نوې وه اودې خبرې مې بيا بوداپست ته دسفراراده ټينګه کړه.

په لويديځوهيوادوکي چي څوک ژوندکوي ، هغوی ته ددې ځايو سرګردانه ژوند معلوم دئ،چي دڅايوه تربلې نه رسيږي. زماد بوداپست سفرهم په دغه سرنوشت اخته و. په دې ترڅ کي زماپخواني اشناښاغلي عبدالعلي رسول زاده دسويډن دمالموپه ښارکي د(مورنۍ ژبې پښتو کنفرانس ) په غونډو کي دګډون بلنه راکړه اوراڅخه ويې غوښتل چي په دغه غونډه کي دافغانستان کي دښوونې اوروزنې دتاريخچې او هم يې پر څنګ د کورسو دښوونکودڅېنوستونزوپه باب ورته وږغېږم. ورسره ښه مې کړه اودامې بوداپست ته دسفريوه موقع هم وګڼله. له ځان سره مې وپتېيله چي دکنفرانس ترپای ته رسېدلو وروسته به بوداپست ته ځم. د ۲۰۰۷ع کال داپريل په پای کي دسويډن د مالمو ښارته ورسېدم. ټاکل سوې وه چي کنفرانس دهمدې مياشتې پر ۲۰-۲۱ ورځو جوړسي. په دغه ښارکي زماموراومنځوی وررورهم اوسي. له هغوی سره مې هم له څوکلونووروسته وليدل. او پرڅنګ مې په ټاکلو ورځو کي دکنفرانس په غونډوکي برخه واخيستله. په دې غونډو کي زما ګډون دافغاني برخه والوله خوامثبت وبلل سو، چي طبيعي ده زماهم د خوښۍ سبب سو. مالمودسويډن په جنوب کي يوکوچنی ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ چي دسكانيا(Scania) په ايالت پوري اړه لري . دمالمو اوسېدونكي د۲۰۰۲ع كال داحصائيې له مخي په سلوكي شپږويشت مهاجرين (په بهركي زېږېدلي) دي . دي ښارته له افغانستان ، يوګوسلاويې ،ډنمارک،عراق،پولينډ،بوزنيا ، تركيې، چيلي، ايران ،سربيا ،هنداونوروهيوادوڅخه مهاجرين رامات دي . وايي چي د مالموپه ښاريوسل واوياتوكمونه (nationalities) اوسي . دافغانانو كميونيټي يې د يادوني وړده. دې ښارته لومړني افغان مهاجرد كندهار ښاردبابيانو د كورنۍ غړي دي . په مالموكي اوس دافغانانودوې فعالي اتحاديې سته. ديوې اتحاديې مشرتوب يې دحبيب الله غمخور پرغاړه ده. غمخوردروزګان ولايت څخه راغلی مهاجردئ. دافغانستان پرحالاتو باندي پرله پسې تبصرې اوليكني په افغاني ويبپاڼوكي خپروي . زمااشنادئ اويورازاخلاص راته څرګندوي.



(عبدالعلي رسولزاده ددې كرښولەليكوال سره)

تركنفرانس وروسته مي دبوداپست دسفرپروژه رامخته كړه . موږ افغانانوته دي خدای خيررا پېښ كړي ، په هرځای كي چي اوسو، خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې پروګرامي راسره ملګرې وي . دسفراراده کووخوپلان ورته نه ترو. دلته خوچي ځوک سفرکوي ، دسفرورځ ، په ټاکلي ځای کي دهوټل ریزرویشن، هورې دهرې ورځي مشخص پروګرام ټول دیوه ټاکلي پلان له مخي سره تنظیم کړي. خوداډول انتظام ته دپښتانه رسېدل ، زماپه خیال څو نورو پېړیوته اړتیالري. بوداپست ته دسفردسرښتې کارمې د ورور پرغاړه واچاوه. هغه اریان پخپل مصروف ژوندکي څوواره د هغه دفترله اداري ته ولاړ، چي بوداپست ته بې دګروپي سفرپلانونه سرښته کول . خوزمادرخصتیوله ورځوسره دهغوی دپروګرام وختونه نه برابرېدل اوپه نتیجه کي مي تریوې اوونۍ زیات وخت په مالموکي تېرکړاودرخصتیوله پوره کېدوسره سم مي مخ پرکاناډا ونیو. د مالمو شپې خومې په استراحت اوله موراودوستانوسره په لیدنوکتنوکي تیري سوې اوښې تېرې سوې خوهغه مقصدچي مادپښتوژبې تر کنفرانس وروسته ځان ته ټاکلی و ، ترسره نه سو.

دهمدې ۲۰۰۷ع کال داکتوبرپرنونسمه نېټه په جرمني کي دافغاني کلتوري ودې ټولني دمعاصرافغانستان دجوړېدودوه سوه شپېتم جشن دنمانځلوپروګرام دجرمني دکولن په ښارکي نیولی واوپرځنګ یې دافغاني مورخینو( فیض محمدکاتب هزاره،میرغلام محمدغبار، احمدعلي کهزاد ،علامه عبدالحي حبیبي اوقاضي عطاءالله خان) په باب علمي کنفرانس په پام کي نیولی و. دې کنفرانس ته یې زه هم وربللی وم اوماته یې دکنفرانس په علمي برخه کي دفیض محمدکاتب هزاره دژونداوآثاروموضوع ټاکلې وه. کنفرانس ته له کابل څخه استاد حبیب الله رفیع اوسرمحقق عبدالله بختانی ، له امریکې څخه پوهانددوکتورحسن کاکړ، له سویډن څخه کاندیداکادمیسن اعظم سیستانی ، له    څخه پوهنوال رسول باوري اوله انګلستان مانچستر څخه استادمحمداسحق نګارګررابلل سوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوارمي نوله ځان سره ټينګ عزم وکړ، چي ترکنفرانس وروسته به بوداپست ته هرومروځم . دسفرټکټ اوهورې دهوټل انتظام مي د ښاغلي زرين انځورپرغاړه واچاوه ، چي کوريې ودان هغوی هم داکار سرته ورساوه . زه داکتوبرپراووه لسمه نېټه له کاناډاڅخه دجرمني پر لوروالوتم.دنيدرلينډ دامستردام په ښارکي ترلنډتم کېدلو وروسته د جرمني دکولن ښارته ورسېدم .دکولن ښار،چي جرمنيان يې دکوليون په شکل اوانګرېزي ژبي يې بياکولون ته ورته تلفظ کوي ، دجرمني په ختځه برخه کي بن ته نژدي يوښکلی ښاردئ. زه دکولن هوايي ډګرته د په ورځ دسهارپر بجوورسېم. زرين انځورمخکي لاځان هوايي ډګرته رارسولی واودمنتظرينوپه سالون کي راته ولاړو. ښه دميني روغبړ مووکړ. دمېلمنوپوښتنه مي ځني وکړه ، وېويل: بختانی صاحب ، رفيع صاحب اوډاکټرکاکړصاحب دوی راغلي دي . نګارګرصاحب نن شپه راځي اوسيستانی صاحب به سباته راورسيږي . له هوايي ډګرڅخه زموږله پاره ترټاکل سوي استوګنځي پوري دشلوپنځه ويشتو دقيقو لاروه . هغه موپه خوراخواږه باندېارسره ووهله. زه چي تېرکال دکولن ښارته دهوتکي غورځنګ...... کي دګډون په نيامت راغلی وم ، دښارپه منځ کي مي ځان ته هوټل نيولی و، خو دا واردکولن په پښتني کميونيټي کي يودخيرښتن ښاغلي فضل الرحمان ترښاردباندي په پنځوجريبوکي يوه ودانۍ اخيستي ده چي د ودونواوخوښيو له پاره دوه عصري سالونونه ، دمېلمنوله پاره يو کوچنوټی هوټل ، دکلتوري ټولني له پاره دفتراودکنفرانس خونه او يو ښکلی مسجدپکښې دئ. حاجي صاحب دکونړولايت له مخورو څخه دئ اوڅه موده يې دولايت مقام سرپرستي هم کړې ده . دی اوزامن يې دپښتني اخلاقوډېرغوره ممثلين دي . دی پخپله مينه ناک ، خنده رويه ، خوش صحبته او درونډ پښتون دئ. عمرېي ترپنځو شپيتواوښتی دئ. زموږاستوګنځی دحاجي صاحب په هوټل کي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library





( حاجي صاحب فضل الرحمان او هوتک )

انځور صاحب تر اطاقه پوري را سره ملګرى و. زما کوټه يې راوښووله او ترلاز مولار ښوونو وروسته يې رخصت واخيست ځکه دسباله پاره د غونډې زياتره کارونه ددوى پرغاړه وه. ماته يې دټولني کتابتون ، چي ددې ودانۍ په کښتني پوړ کي و ، راوښووا وماهم دځان له پارهيوه ډکه غېږ کتابونه خپلي کوټې ته ځني راوخېژول. ترلږ دمي وروسته مي پر کتابوباندي راواچول اونورنوپوه نه سوم ، چي څومره ساعتونه د کتاب له معشوقې سره لاس ترغاړه وم.

ترښه پوره استراحت وروسته مي جامې بدلي کړې . په دغه وخت بختانى صاحب اورفيع صاحب هم راپيدا سول. له بختاني صاحب سره څه کم دېرش کاله وروسته اوله رفيط صاحب مي دوه کاله وروسته بياوليدل.

دبختاني له نامه سره دهجري شمسي دېرشموکلونو راهيسي اشنايم . دغه وخت زه په کابل کي دخپل نيکه ، مولوي صالح محمد هوتک سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسېدم دمولوي صاحب مرحوم كوردكابل په كوټه سنګي كي و . كوټهٔ سنګي دنوي اباد ېدلوپه حال كي وه . له مولوي صاحب سره په كوركي اروښادعبدالخالق واسعي هم اوسېدی . دغه وخت مولوي صاحب په شوراكي دكندهاروكيل اودشورادرياست معين و. اروانباد واسعي صاحب په پښتوټولنه كي رسمي وظيفه درلوده . د پښتوټولني ودانۍ دپل خشتي جامع په مقابل كي دكابل رود پرشمالي غاړه دنادرشاهي واټ په خوله كي دپومبه وو د دوكانو پرسر واقع وه . دغه وخت دټولني رئيس اروانبادګل پاچاالفت و. دا وخت زمادوړوكتوب زمانه وه او واسعي صاحب به كله كله له ځان سره خپل دفترته بيولم . له اروانباد واسعي څخه مي په هماغه وړوكتوب كي اورېدلي وه اوتر اوسه مي لاهم په ذهن كي ديوې خاطرې په توګه خوندي ده ، چي وايي اروانباد مولاناسيفي به ويل:

دادپښتوټولنه نه ده ، دپختوټولنه ده . له (پختو ) څخه به يې مرادد ټولني تردفترلاندي دپومبه پلورونكودوكانونه وه . دپښتوپه ځينو لهجوكي دپومبه له پاره دپارسي ژبي دخيل لغت(پخته) كارول كيږي. دپومبه وودوكانونه د(دپختودوكانونه) بولي. داراز التباسونه دپښتو ژبي په لهجوكي زيات دي. نوري ژبي هم دغه رازملتبس كلمات لري[1]. (۱) نه پوهېږم چي بختاني صاحب به هغه وخت په پښتوټولنه كي غړيتوب درلود ، كه يا؟ خودكابل مجلې په زياتروګڼوكي به مادهغوی په نامه شعرونه اومضامين ليدل .ښه ډېركلونه وروسته چي ماهم دقلم او ليكني له شواخون سره ترون وكړ، بيامي نودبختاني صاحب په باب ، د هغوی دليكنوپه باب ، د هغوی درسمي وظيفوپه باب معلومات زيات سول . زماپه كتبخانه كي د(تذكره الشعراء ) هغه ټوک سته،چي

---

[1] دمولاناسيفي مرحوم له دي ادبي ظرافت څخه څونتيجي راوزي اوهغه داچي دپښتوپه ټولو لهجوكي دخيل لغات سته اودايوه طبيعي ژبنۍ عمليه ده . دوهم داچي التباسونه هم په هره لهجه كي موندل كيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بختاني صاحب راته اهداء کړی او پخپل خط یې پرلیکلي یې دي : " د پښتو ادبیاتوځوان محقق ښاغلي معصوم هوتک ته،چه دمولوي صالح محمدنسبي اومسلکي بالاستحقاق وارث دی . په درناوي . عبدالله بختانی. کابل د ۱۳۲۷داسد۲۵مه".


تذکره الشعراء دسراج الدین خان سعیداومولوي صالح محمدهوتک ګډ تالیف دئ ، چي دبختاني صاحب په زیار په ۱۳۲۲ش کال دامیر کروړ سوري ددوولس سوه پنځوسم تلین په ویاړخپورسوی . ددې کتاب وعده یې هغه وخت دعلوموپه اکاډیمۍ کي راسره وکړه، چي زه دیوچادلیدلوله پاره هلته تللی وم اووروسته دغوتۍ خاوري په لاس دباخترآژانس دپښتوخانګي ته ، زمادکاردفترته راواستاوه . له هغي نیتې څخه مونوبیا نه وه سره لیدلي اودادئ اوس مو دنړۍ په یوه ډېر لیري هیوادکي ، چي نه زمااستوګنځی دئ اونه ددوی داوسېدلو مېنه ،سره وکتل . خوداوارنه زه هغه (ځوان معصوم هوتک) یم اونه دی هماغه چټ ږیرخریلی بختانی صاحب . نن زماپه کوندۍ ږیره کي تر تورو وربښتو سپین ډېردي اوددوی په اوږده سپینه ږیره کي خو،چي دیوه نوراني روحاني سړي څېره یې وربخښلې ده ، یوتوروربښته هم نسته . بختانی صاحب چي اوس یې عمرتراتیاکلونواوښتی دئ ، د پښتولیکوالواوشاعرانودپخواني نسل په هغوڅووروستیوګوتوپه شمېرژوندیولیکوالوکي دئ ، چي اوس یې هم ګوتي دقلم نیولواو خوځولوتوان لري . موږبه پخپل استوګنځي کي دسباناري پروخت ښه دخوندمجلس کاوه . پرسیاسي حالاتو، ادبي موضوعاتواو ورځنیو خبروموبحثونه کول . بختاني صاحب دویښ زلمیتوب په غورځنګ کي د ګډون ډېربیانونه درلودل اوزما سره داپوښتنه لاینحله پاته ده ، چي ولي ددوی نوم د(ویښ ځلمیان ، دافغانستان یوسیاسي تحریک ، چاپ ۲۰۰۰ع ) کتاب په هغه لیست کي نسته ، چي دویښ زلمیانود

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړو په توګه را پېژندل سوي دي. داکتاب دويښ زلميانو د غورځنګ يو فعال او مبارز غړي ارواښاد محمد علم بخرکي ليکلی دئ[2].

دکولن په کنفرانس کي ښاغلي بختاني صاحب د مرحوم قاضي عطاء الله خان د تاريخ په باب ويناوکړه.



(له ښی خوا: محمد معصوم هوتک ، سرمحقق عبدالله بختانی ، ..... )

ددې سفر په ترڅ کي مي دلومړي وار له پاره له استاد اسحق نګارګر سره وپېژندل . له ليکنو او تلويزيوني بيانو سره يې له پخوا اشناوم . په تصوف، عرفان، فلسفه، ادبيات او تاريخ کي د پراخو اوژورو مطالعاتو

---

[2] ددې کتاب لاسکښلې نسخه ما ته ارواښاد مير صاحب جيلاني خان الکوزي په کال په کوټه بلوچستان کي راوسپارله چي کابل ته يې ارواښاد علامه رشاد ته يې دکتلو د پاره ورسوم . داکتاب ماله ځان سره کندهارته يووړ او کابل ته زما سفر په دغه وخت کي وځنډېدی او د کتاب مسوده مي ښاغلي مولانا عبدالباري (زماداکازوی) ته ورکړه . نوموړي کتاب علامه رشاد ته ورساوه او خوورځي وروسته چي زه بيرته کوټې ته ستون سوم ، مدير صاحب جيلاني خان ته مي د کتاب کيفيت په داسي حال کي بيان کړ، چي نوموړی دخپل ورور پرفاتحه باندي ناست و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښتن دئ . په فصاحت اونطاقي کي پرختمه ده . دوينا په وخت کي د افادې قوت په ستايلوارزي. ماله پخواڅخه ، هغه وخت چي لا په کابل په لوړو تحصيلاتو بوخت وم ، د استاد نګارګر سياسي وفلسفي ليکني په غيردولتي جريدوکي لوستي وې. هغه وخت يې ګومان کوم باختري تخلص کاوه. ليکني يې ترنورو همزولو او همفکرو لوړي او عميقي وې.

داکتوبرپر ۱۹مه سهارچي دچايوخوړلوخوني ته ورغلم ، بختانی صاحب،رفيع صاحب،کاکړصاحب لادمخه هورې ناست وو. ښاغلی غريب دناري په برابرولوبوخت و. داستادنګارګرپوښتنه مي وکړه، وېويل پخپل اطاق کي دئ. چانه دئ خبرکړی چي ناری په همدې خونه کي دئ. کاکړصاحب موږته مخ راواړاوه:

- په انګلستان کي يې وخت تېرکړی دئ. چي څوک يې يو ځای ته ونه غواړي ، پرخپل سرنه ورځي.

په دغه وخت کي يو ځوان له مېزڅخه ولاړسواوځای يې يوه سپين ږيري ته ورپرېښوو ، چي سپيني جامې ، کندهاری خامکي غاړه يې پرتن وه ، کونډۍ ږيره يې وه اوګارګري ټوپۍ يې پرسروه . له مېزڅخه يوچاورږغ کړه:

- نګارګرصاحب پرښه وخت راغلې. هرڅه تياردي.

ماپه روغبړکي ځان وروښوو. دوهم واريې په غېږکي ټينګ کړم اووېويل:

- آثاردي لولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته مونږ په جرمني کې داستوګنې پروخت ترټاکلې غونډې وړاندې او وروسته هره ورځ سره کتل او دزړه خواله به مو سره کوله. د غونډې د کنفرانس په برخه کې نګارګرصاحب ته دعلامه حبیبي په باب دلیکنې اوخبرې بلنه ورکول سوې وه ، خودوی علامه مرحوم ته په پارسي ژبه یوه درنه دارادت قصیده ویلې وه اودهغې په لوستلوېې دغونډې غاړه وایستله. دغونډې دجوړوونکو او وربدونکو هیله له نګارګرصاحب څخه په دې برخه کې زیاته وه ، خولکه چې دخبرې له پاره یې وخت نه وموندلی.



(استادمحمداسحق نګارګر له محمدمعصوم هوتک سره )

دغه رازمې په دې غونډه کې له ځوان جرمن ژبپوه اوختیځ پوه ښاغلي سبیستیان هاینه (Sebastian Heine ) سره هم دپېژندګلوۍ کتنه وکړه . دغه ځوان ژبپوه اوختیځ پوه په پښتو، پارسي،بلوڅي اودپامیرپه ژبوباندې پوهیږي. په کنفرانس کې یې په په پښتو، پارسي اوبلوڅي ژبوخبرې وکړې ، دخپل ځان اووظیفې په باب وړغبدا ودوینا په پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي يې وويل چي ٌ کاشکي افغان وای ٌ. ماپرېږغ کړه ، چي ته افغان يې اوزه دافغان په سترګه درته ګورم ځکه چي هم په افغاني ژبوپوهېږې اوهم مينه ورسره لرې . ډېرخوشاله سو. په دې باندي هم ډېرخوښ سو ، چي زه دکندهارپه لهجه رږغېږم . ده وويل دکندهارلهجه ډېره لرغوني اوخوږه لهجه ده . دی هم دکندهارپه لهجه خبري کولې . ده راته وويل چي د( ښ ، ږ) ږغونه دخوشحال خان ترعصروروسته په(خ ، ګ) باندي اوښتي دي[3](١). سبستيان دکندهارپه لهجه کي ددرختي ، سيب ، سايې کلمې ناسمي وبللې اودپارسي ژبې اغېزه يې وبلله . ماورته په جواب کي وويل ، چي دکندهارپه لهجه کي ددرختي اوسايې پرځنګ دوني اوسيوري کلمات هم سته اوښاري کندهاريان يې لږکاروي خودکليو اواطرافوخلک يې ښه په پراخ لاس وايي . دغه رازمي دپښتو(درخته) او دپارسي (دَرَخت) توپيرورته بيان کړاودکلسترآغازي ځانګړتيا مي په (درخته) کي ورته تشريح کړه . ده خوښي وښودله خود( درختي) په کلمه کي يې دلومړي توري سکون دکندهاريوپښتنوتصرف وباله.ده وويل دپارسي (دَرَخت) پښتوته ننوتلې ده اوکندهاريويې له خپلې لهجې سره سم دپښتو قوانينوپربنسټ ابتداء ورساکنه کړې ده .

ښاغلی سبستيان زماله ليدوځخه خوښ سو اوايميل پته يې د راتلونکو اړيکوله پاره راکړه .

[3] ډاکټرپالوال هم پخپل کتاب معياري ژبه کي د ننګرهار لهجه نوې بولي .

(c) ketabton.com: The Digital Library






(هوتک او دسبستیان )

ددې کرښوترلیکلوڅوورځي وروسته مي په ټول افغان ویبپاڼه کي دسبیستیان هاینه په باب دپلوم انجنیرخلیل الله معروفي یومضمون ولووست ،چي دمارتین ګُخ په قلم لیکل سوی او په شپیګل آنلاین کي خپورسوی واوښاغلي معروفي په پارسي ژبه ژباړلی و. په همدې ورځ ماته دښاغلي سبستیان ایمیل هم رارسېدلی واوزمادهغه ایمیل په جواب کي یې ، چي ماپکښې دده دژوندلیک غوښتنه کړې وه ، د ۲۰۰۷ ع کال دنومبرپرلسمه راته لیکلي وه[4]:

ګرانه ښاغلي هوتک ،
ستاسو دنیکوپېرزوینو څخه یوه نړۍ مننه. زمانیکي هیلي اوپېرزویني هم ومنئ .زمادپاره دویاړځای و،چي په دغه ښکلې غونډه( دکولن غونډه . هوتک ) کي مي برخه واخیسته . هیله لرم چي پښتانه به په

[4] دایمیل متن ماپه پښتوالفبې اړولی دئ.اصل یې په لاتیني تورولیکل سوی دئ اوتر همدې متن وروسته به یې ولولئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلونکي کې هم خپلو کلتوري هلو ځلوته دوام ورکړي ، ځکه چې تر اوسه پورې دنورو توجه پښتوژبې ته نه ده اوښتې. زه به کیدای شي په اګست کې دراتلونکي کال ، په کاناډا کې دآرین پېژندنې په یوه نړیواله غونډه کې ګډون وکړم. که دغه یون وشي نو هیله لرم چې تاسو هم ووینم. یوه اوونۍ وروسته په ویانا ـ اتریش کې همدارازدپښتوژبې په اړه یوه مقاله وړاندې کوم ، چې په هغې کې به ددغې ژبې زاړه جوړښتونه په ګرامر او ویې پانګه کې راپه ګوته کړم ، چې ځینې هغه یوځوزره کاله سابقه لري. زه به خپل ژوندلیک ژرترژره درواستوم.

په درناوي

سبستیان ٌ زمری ٌ هاینه

++++++++++++++++++++

---

## Zhwandlik

From: **Sebastian Heine** (SHeine1@gmx.de)
Sent: November 10, 2007 9:34:16 AM
To: mhotak@hotmail.com

Security scan upon download TREND MICRO
cv Heine.doc (28.2 KB)

Grana shaghelia Hotak,

stasu de neko pirzoyino tsekha yawa naRey manena. Zmaa neke Hile aw pirzoyine ham wumaney. Zma de para de wiyaR dzay wu ce pe dagha shkule ghunda ki mi barkha wakhista. Hila larema ce Pashtaane ba pe ratlunki ki ham khpelo culturi halodzalo ta dawaam warkRi dzeka ce ter osapori de noro tawadscho Pashto zhebe ta na da au shte. Ze ba kedeshi pe August ki de ratlunki kal pe Kanada ki de aryanpezhandene pe yawa naRiwala ghunda ki gaDoon wukRem.Ke dagha yun wushi nu hial larema ce tasu ham wuwinem. Yawa oweney wrusta, pe

(c) ketabton.com: The Digital Library



Vienna/Otrish ki hamdarazde Pashto zhebe pe aRa yawa moqala wrande kawem, ce pe haghe ki ba de daghe zhebe zaRe dshoreshtuna pe gramar au waypanga ki ra pe guta kRem, ce dzine hagha yaw co zera kala sabeqa lari.

Ze ba khpel zwandlik zher ter zhera darwastawem...

pe dranawi

Sebastian "Zmaray" Heine

++++++++++++

ښاغلي سبستيان ماته په کولن جرمني کي هم ويلي وه ، چي دی دلويديځي لهجې پښتووايي. په دغه رالېږلي متن کي يې ماته د( کي ، مي ، راتلونکي ، پوري ، درناوي ) کلمې دلويديځي لهجې له وينګ سره سمي ښکاره سوې ، خوپه (کيدای شي ، وشي) کلماتوکي بيا د ختيځي لهجې اغېزه ليدله کيږي.

دمارتين ګُخ ليکنه ماته په زړه پوري ښکاره سوه اوددې سفرنامې لوستونکوته به يې دهغې پښتوژباړه وړاندي کړم . داژباړه دښاغلي ديپلوم انجنيرخليل الله معروفي له پارسي ترجمې څخه سوې ده .

## پښتوخوږه ده اوورسره زيږه هم

دوه ويشت کلن محصل چي پنځه دېرش ژبې يې زده دي . يوځوان پوه چي په دريوڅلوروخارجي ژبو وږغېدلای سي . استثنايي تن ګڼل کيږي . خودښاريومحصل "سبستيان هاينه" هرکال څلورژبې زده کړي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اواوس يې پنځه دېرش بهرنۍ ژبې زده دي . له (آرامي) ژبې نيولې تر(اوزبيکي ) اوورباندي ګراني ژبي(پښتو ) پوري.

سبستيان هاينه ، دبن پوهنتون په کتابتون کې يې دخپل کارپر مېز باندي پرتوکتابوته داشارې په ترڅ کې وايي: " يه، زه نابغه نه يم. دا صِرف دزياراوتلاښ نتيجه ده. زه هره ورځ لغتونه زده کوم اوګرامر هره ورځ تکراروم. البته په دې ارزوَ نَه کې،چي دبورو، پېچلو، پېچلو ورېښتانولرونکي دوه ويشت کلن ځوان دځان په باب کړې ده ، خورا ډېره تواضع پرته ده. ځکه هيڅ انسان نسي کولاى چي له خارق العاده استعدادپرته دي څه دپاسه دېرش ژبې ، هغه هم دنژدې ختيځ اوليري ختيځ ژبې دي زده کړي. هغه ژبې چي دده (سبستيان ـ پ ، ژ ) زده دي ، دادي:

لرغونې فارسي ( فُرس قديم) ، اوستايي ، پهلوي ، باختري ، سغدي،ساکي،پښتو، پراچي ، اورمړي ، واخي ، يغنوبي ، سنګليچي ، ايشکامي ، اوسيتي (آسي) ، ايدغامنجي، اردو، هندي ، فارسي ، پنجابي ، سندي ، کورمانجي ، ګردي ، بلوڅي ، سنسکريټ ، پالي ، ګندهاري ، لاتين ، يوناني ، لرغونې آيرلينډي ، منځنۍ کيمري ، ګوتيک ، اوزبکي ، آرامي ، عربي ، فرانسوي ، انګليسي.

دده دژبې زده کولوکارنامه اووه کاله وړاندي پيل سوه. دغه وخت ده د " هسن " ايالت د " فرانکن برګ " ښارپه " ايدرتال " ښوونځي کي درست لوست اوپنځلس کلن و. د " هومر " داصلي متن دلوستلوپروخت ورته معلومه سوه چي " يوناني " او " سنسکريت " يوله بله نژدې اړيکي لري. دې کارده کنجکاوي راوپاروله او د " سنسکريت " ژبه يې په زده کړه. دى ، چي ديوه مورخ زوى دئ ، څلورکاله وروسته يې درې څلور نوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبي هم زده کړي اوخوښ و ، چي دسکويټ ته دتګ پرځای يې په دغه شان ( علمي )کارلاس پوري کړی دئ.

سبستيان هاينه چي کله دبکلوريا برى ليک په اعلى درجه باندي ترلاسه کړ، د " بن پوهنتون " ته شامل سواود " انډوجرمانيک " ( د هندو جرمن ژبوادبيات ) په اصلي څانګه او د " اندولوژۍ " ( هندپوهني ) او " سلتولوژۍ " ( سلت پوهني )په فرعي څانګوکي يې تحصيل پيل کړ . داڅانګي له پخواڅخه ښکلي اوزړه راښکونکي څانګي دي . همدا اوس يې خپل ديپلوم څانګي ته سپارلی ،چي په هغه کي يې " فعل ،په پښتوکي " څېړلی دئ. دا هغه ژبه ده چي دی ورسره دزړه له کومي مينه لري. دی " پښتو " دټول انساني ژوندموزائيک بولي اووايي: "پښتو" خوږه ده اوورسره زيږه هم . " پښتو " له يوې خوا تراندازې زياته نرمه کېدلای سي اوله بل پلوه ډېره زيږه اومردانه کېدلای سي . " پښتو " د ژوند څرګندويه ده ، چيغي وهي ، ژاړي ، خوښي کوي ، ساندي وايي اومرېنه تمثيلوي . "

" پښتودژونداحساس دئ "

کله چي سبستيان دخپلي ګراني ژبي " پښتو " نکل درته په مينه پيل کړي اودپښتوشعرونه ديکلمه کوي ، سترګي يې ورسره په ځلېدوسي اوپخپله په يوه بل جهان کي ډوب سي. ښايي دده پوهنتوني ملګروته به دارازهيجاني کيدل نابلده شانته وي ، خودی په هغوی باندي کار نلري اوده ته داخبره بې توپيره ده چي نورکسان څه رازفکرکوي . دژبو دغه ماهر، چي تل يې درنې جامې اغوستي وي،بيايې هم د محصلې رنګارنګ ژوندغوره رنګ کړی دئ.دی تقريباً هره ورځ له هغو افغانانو سره ګوري ، چي په المان کي يې ورسره پېژندلي دي ، له هغوی سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوستانو لیدلو ته ورځي ، په مېلمستیاوو کي یې برخه اخلي ، له هغوی سره دخدای اوجهان په باب بحثونه کوي ، البته په الماني ژبه نه ، بلکي په پښتو.

ده له هغوی څخه داهم زده کړي دي ، چي پښتونه یوازي یوه ژبه ده ، بلکي دژوند درک هم دئ: " پښتو د پښتنو یو نالیکلی فرمان دئ. یعني که غواړې رښتین واوسې ، دښه نامه څښتنان سې ، مېلمه پال سې ، د دښمنانو په وړاندي زغم ولرئ ؛ نو په پښتو وږغېږئ . کله چي دهغوی په ژبه وږغېږلاست ، په حقیقت کي له هغوی سره ګډ سولاست . هڅه وکړئ دهغوی چلند درک کړئ اوویې منئ. اودغه ځای دئ چي بیانور کسان هم تاسي مني ."

دده دزیاترو نویو دوستانو به زړه ته نه لوېږي ، چي یو " غیرپښتون " هم کولای سي له هغوی سره پخپله ژبه وږغېږي او څرګنده ده ، چي همدا کارددې سبب ګرزي چي ده ته پخپله کړې کي ځای ورکړي . البته سبستیان هم پرخپله کلاسیکه څېره سربېره ، دښه نیت څرګندولو په خاطر، هڅه وکړه چي ډېره پرېږدي اوکله کله دملنډو په توګه خپلي ږیري ته اشاره کوي اوخپل خوتاره برېتونه چاته ورښیي.

## " افغانستان به زماله پاره یوه رؤیاوي "

دافغانستان حالاتو اودسبستیان هاینه دژبو مهارت ته په پاملرني سره دده پرمخ ډېري دروازې خلاصي دي؛له شرکتونونیولې تر مرستندویو سازمانو پوري . په یوځي برخه کي خودالمان اردولامخکي له ده څخه غوښتي دي ،چي په سیمه کي دژبو دتنوع په باب ویناوي وکړي. دی به

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکارومني . څکه ده ته داخبره اهميت لري چي دسيمي په باب خپل معلومات له نوروسره شريک کاندي.

خو دی ديوه ژبپوه له نظره ، دافغانستان دپرمختيايي مرستواو بيا رغاوني سياست ته دشک اوترديدپه سترګه ګوري . سبستيان پردې سياست باندي دانتقادپه توګه وايي : ٌ زياتره پروژې په فارسي ژبه ، چي دافغانستان له دوورسمي ژبوڅخه يوه ده، سرته رسيږي . البته په فارسي ژبه خوپه لومړۍ درجه کي دهيوادپه شمال کي خبري کيږي او څرنګه چي دوولس ميليونه پښتان په جنوب کي په پښتوږغيږي ، په دې ډول له مرستندويوپروګرامونوڅخه لږګټه اخلي.ٌ

دی خپله راتلونکې په تدريس ، څېړنو اوپلټنوکي ويني اونه غواړي چي ځان په سياسي اواقتصادي مجبوريتوکي راايسارکړي . دی بيريږي چي که : ٌ انسان يوځل دغو قيوداتوته ورننوت ، نوريې د را وتلو ور ونه تړل سي ٌ. که ټول کارونه دده له آرزوسره سم پرمخ ولاړسي ، نودی په پام کي لري ، چي دسږکال په پای کي به خپل د دوکتورا کار د ٌالمان دخلکودتحصيلي موسسې ٌ له يوه بورس څخه په استفادې سره دلندن د مشهورښارد ٌختيځواوافريقايي مطالعاتوپه ښوونځي ٌ کي پيل کړي.

له هغه وروسته نوبياترټولولومړی هيله من دئ ، چي ديوه پوه په توګه هغي سيمي ته ولاړسي ، چي په ژبويې پوهيږي اوهيڅکله يې په هماغه سيمه کي ژوندنه دئ کړی. دی وايي: ٌ ديوه پوه په توګه ، زما لپاره به افغانستان يوه روءيا وي. ستر کي يې بياوځليږي اووايي : ٌد هغوژبولهجې بايدوڅېړلي سي ، چي تراوسه يې لاګرامرنه دئ ليکل سوی ، نکلونه ، کيسې ، افسانې ، روايات اوشعرونه ، داټول به زما د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېري دلچسپۍ وړ وي ٌ .په دې ډول هيله من دئ چي دافغانستان سياسي حالات ژرآرام سي اودی وکولای سي ، دمثال په تـــــوګه، په ٌ کابل پوهنتون ٌکي درس ولولي ، درس ورکړي اوپه څېړنه وکړي[5].




+++++++++++++

دغونډي په ترخ کي مي له ښاغلي فضل الرحمن فاضل سره هم لنډه ليدنه کتنه وکړه اوخپل نوی چاپ سوی کتاب (بيدارګرعصر) يې راکړ. माددغه کتاب ځيني برخي پخوادانټرنيټ له لاري لوستي وې . له ده سره مي ه دې برخه کي خبري وکړې. ښاغلی فاضل په افغاني زلميوکي ښه عالم سړی دئ . ( نوره تشريح ـ داچي زموږخلک ديوچافضيلت اوپوهه د هغوی له سياسي عقايدوسره ګډوي اوبياقضاوت وربانديکوي )

[5] دامقاله وروسته بل چاهم په پښتوژباړلې اوپه پښتوويبپاڼوکي يې خپره کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(دکولن دغونډې خاطره )




(له ښی خوا: اکبرکرگر ،محمدمعصوم هوتک ، زرين انځور دکولن غونډې خاطره )

(c) ketabton.com: The Digital Library





(محمد معصوم هوتک او پوهاند دوکتور محمد حسن کاکړ )


(پوهاند حسن کاکړ او هوتک )

(c) ketabton.com: The Digital Library






(محمد معصوم هوتک)

له سیستاني سره لیدني کتني:
( دخوشدل خان بارکزي په باب ، دملانسو په باب اوورو سته زموترمنځ
په دې برخه کي دایمیلونو تبادله باید په تفصیل سره بیان سي )

(c) ketabton.com: The Digital Library





(محمدمعصوم هوتک اوکانديداکادميسن اعظم سيستانی)

دبواپست کتنه

د۲۰۰۷ ع کال داکتوبرپر۲۱مه دجرمني له کولن ښارڅخه بوداپست (هنګري) ته ورسېدم . دشپې اته بجې شاوخواوې چي په ټکسي کي مي دبوداپست ښارله مرکزڅخه څه قدرليري د(Dominik Panzio) هوتل ته ځان ورساوه . په کولن کي موالوتکه لږڅه وځنډېدله اود سفر ستړيايي يوڅه رازياته کړه . ځکه مي په نوموړي هوټل کي خپلي خوني ته ژرځان ورساوه اوترځينولنډوياداښتوليکلووروسته بيده سوم . د بوداپست ښار ته مي د سفراصلي مطلب دبوداپيست دعلوموا کاډيمۍ د کتبخانې کتل و . سباوختي له خوبه راکښېنستم اوترچايووروسته مي دهوټل دمسئولي ښځي په مرسته اولاربښوونه دنوموړي کتبخانې پته پيداکړه په ټکسي کي هغه ځای ته ولاړم. پرلاري دښارسړکونه ټول خالي وه . له ټکسي وان څخه مي ددې چوپې چوپتيا دليل وپوښت . راته وېويل چي دغه ورځ اوسبايې دمجارستان دنوي انقلاب دبري نمانځلو جشن دئ اوښارټول تړلی دئ. ماځني وپوښتل چي دولتي او اداري ځايونه هم تړلي دي ؟ وېويل ، هو ! ګوياپه دې ورځ مي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتبخانې دکتلوله پاره هڅه اوبویوړه اوزه بایدداکتوبرتر۲۴مي پوري انتظار وکاړم. له وخت څخه په استفادې باندي مي دبوداپست ښار د لیدلوله پاره ددرې ساعته ګښت پروګرام تنظیم کړ. شپږویشت یورو مي دهوټل دفترته تحویل کړې اودورځې پر لس نیمي بجې مي په ښار کې د ګرزېدلوپه نیت تیاری ونیو. هواسړه وه اوماپنډې جامې له ځان سره راوړي نه وې. په هرصورت هوټل ته دګرځندوی اداري موټرپرلسو بجو راغی اوزه یې دبوداپسټ انټرکانټي نینټل هوټل ته بوتلم. له دغه ځایه موپه یوه ښکلي بس کې دښارګروپي لیدنه پیل کړه.لارښوونکې په انګلیسي اومجاري ژبودواړوپوهېدل اوپه دواړو ژبویې تشریحات ورکول. ددې معلوماتولنډیزماداسې یادانښت کړی دئ:

دبوداپست ښارددانیوب رودپه واسطه پردووبرخووېشل سوی دئ. یوه برخه یې (بودا) اوبله یې (پیست) نومېږي. دواړه نومونه سلاویکه منشاء لري چي د(بودا) معنا(اوبه) اود(پیست) معنا(اور؟) ده. د بوداپیست ټول اوسېدونکې دوه میلیونه دي چي دهنګري دټول نفوس په سلوکي لسمه برخه ده. په دوی کې ۷۵په سلوکې رومن کاتولیکان، دبرش په سلوکي پروتستانت اونوراقلیت دینونه اودري په سلوکي یې یهودیان دي. وایي چي دهنګري خلک په نهمه میلادي پېړۍ کي له آسیاڅخه دې سیمي ته راغلي دي. دوی په لومړي سرکي دکوچیتوب ژونددرلوداوپه کرډیوکې اوسېدل.

پردې سیمه باندي په شپاړسمه ـ اووه لسمه میلادي پېړۍ کي عثماني تورکانوزیات وکم یونیم سل کاله واکمني کړې ده خواوس ما له یوې کوچنۍ محقري ودانۍ پرته کوم تعمیرونه لید، چي دتورکانو د واکمنۍ دوختویادګاردي وي. ښایي دعثماني امپراتورۍ ترزوال وروسته په قصدي توګه له منځه وړل سوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(دبوداپستښارعمومي منظره)

ماپښین مهال موګښت بشپړسواوبیرته خپل استوګنځي ته ولاړم . ورځ باراني وه ، له هوټل څخه دوتلوامکانات مي نه درلودل . په داسبا(داکتوبر۲۳مه ۲۰۰۷ع)هم دباران همداسي شرپ وشروپ و. پخپل استوګنځي کي مي دانټرنیټ درک وایست. خپل ایمیلونه مي وکتل. ښاغلي روهیال دکندهارمجلې ته مضمون غوښتی و. جواب مي ورولیږه اوکاناډاته مي تررسېدوورو سته وعده ورکړه ، چي مضمون به ورلیږم. ښاغلي نوزادي دوفامعصومي دهغي لیکني په جواب کي خپل لیکل سوئ مضمون رالیږلی و، چي دقلندرمومند دپټه خزانه فی المیزان دتاییدپه باب یې لیکلې وه . دتخنیکي ستونزوله امله مي مقاله نسوای لوستلای . مختصرایمیل مي ورولیږه[6]. له کولون ـ جرمني څخه دراوتلوپه وخت کي زرین انځورراته وویل چي له ده سره دډاکټرنسرین ( هماغه ډاکټرکاتونا، چي زه یې له نامه سره دډاکټر حبیبي دایمیلوله لاري اشناوم) دتیلفون نمبرو،خوځني بېځایه سوئ

---

[6] په کاناډا کي مي تر راتګ وروسته ورسره بشپړه مکاتبه وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ . له ماڅخه یې وغوښتل ، چي بوداپست ته ترسېدوو روسته ورته تیلفون وکړم ، ده به نمبرپیدا کړی وي اوماته به یې راکړي . ماچي له بوداپست څخه هرڅه تیلفونه وروکړل ، کورته یې اوموبایل تیلفون ته یې ، دده پرموندلو بریالی نه سوم . په کورکي مي له زوی سره خبري وکړې اوهغوی راته وویل چي په کورکي نسته . که مي دانمبرموندلی وای ، مشکلات به مي ډېرحل سوي وای .

دماپښین خواته ورځ لږڅه روښانه سوه ، اوریځي یوڅه سره ماتي سوې . دباران شدت لږڅه راکم سو. ترهوټل دباندي راووتم . شاوخوا وګرزېدم . دې هیوادته حیران تللی وم . دوه نړیوال جنګونه ، دفاشیزم اوکمونیزم تاړاک پرتېرسوی و ، خو تاریخي ودانۍ اولرغوني آثاريې پرځای پاته وه . دخپلو خلکو پر ناپوهۍ مي افسوس وکړ، چي ددین یا سیاست په پلمه مودهیوادد تاریخي آثاروبېخ وبنیادوکېښل . په ډک زړه خپل استوګنځي ته راغلم . دخواله څوک نه و ، چي زړه مي ورته تش کړی وای . دشعرلیکلوهڅه مي وکړه خوشعرویل ماغواړې؟ ولاکه مي ولیکې . قریحې کورټ جواب راکړ. له ناکامه مي خوب ته پناه وروړه اوترسهاره پوري کله ویښ کله بیده په ځای کي غځېدلی وم .

سهارمي دروښاپه لیدلوخپل پروګرام رایادسو، راپاڅېدلم او تر اودس ولمانځه وروسته مي په خړه بیادسهارناري سالون ته ځان ورساوه . دسالون مسئولي مېرمني لامیزونه نه وه سره اوډلي چي زما له خوا ورته (Good Morning ) وویل سواودې په مجاري ژبه جواب راکړ. ناری مي راواخیست پرمېزباندي دبوداپیست ورځپاڼه پرته وه ، مخ و شا مي واړوله . عکسونه مي ترنظرتېرکړل .په ژبه خويې نه پوهېدلم . چي ساعت اته بجې ښوولې زمابیاله ټکسي وان سره علومو اکاډیمۍ ته دتګ په لارکي دغره و د وره مجلس تود و . نهو بجوته شل دقیقې پاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې ، چې د اکاډیمۍ په دروازه کې مې ګام کښېښود. د هنګري دعلومو اکاډیمۍ ودانۍ دډانیوب رود پرختیځه غاړه د روزویلټ په کوڅه کې واقع ده. په هنګري ژبه یې ادرس داسې دئ:

Magyar Tudomalyas Akadelmia ( MTA)
1051 Bp.1, Roosevelt  Ters



(دهنګري دعلومو اکاډیمۍ ودانۍ)

په اکاډیمي کې مې دکتابتون پوښتنه وکړه ، چاراته وویل ، چې لار یې د ودانۍ شاته په هابله کوڅه کې ده . هورې ورغلم . کوټ وبکس مې د دروازې ساتونکي ته تسلیم کړل اودیوه بل ساتونکي په مرسته د ودانۍ دوهم پوړته، چې دکتابتون دمامورینودفترونه راته ښکاره سول ، وختلم . یوې مېرمنې په ماته وګوډه انګرېزي ښه راغلاست راته ووایه اوماهم خپل مطلب ورته بیان کړ.

وېویل: له کتابتون څخه دڅوورځوله پاره داستفادې اجازه غواړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- يوه ورځ.
- لطفاً به پنځه سوه فرونته تحويل کړئ.
- پرسترګو.


پيسې مې ورکړې،رسيدېې راکړاودساتونکي په لارښوونه بيرته د اکاډيمۍ اصلي ودانۍ ته ولاړم اوهورې يې دکتابتون د اوريينټل څانګې لورى راوښوداوزه هم سمدلاسه ورننوتم. په رشتيا چې ختيځه څانګه وه . دالماريوشکل وبڼه اوپه دروازوکي کندنکارۍ يې ټول د ختيځ مدنيت نمايندګي کوله.

له بده مرغه دمسئولي مېرمني يې له يودوومتحدالمالوخبروپرته بل څه نه وه زده.
- کوم کتاب دي په کاردئ؟
- نمبريې لرې ؟

اوبس . اوږې يې پورته وغورځولې . ګويا څه مرسته نه سم درسره کولاى. ورته ومې ويل:
- ګوره ، زه له کاناډااراغلى يم . دلته مې دوې ورځې درخصتۍ له اسيته ضايع سوي دي. اوس فقط همدا يوه ورځ لرم اوسل مطلبه . بخښنه غواړم ، که يوبل څوک چي په انګليسي کي مشکل ونه لري ، راپيدا کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(دهنګري دعلوموااکاډیمۍ دختیځ پېژندني څانګه)

په همدې ترځ کې یوښکلی ځوان راپیداسو. پرمېرمني هم دخوښۍ څپې راماتي وسې . ځکه زماله جنجاله خلاصه سوه . پرشونډویې موسکاخپره سوه. ځوان په ډېره فصیحه انګرېزي دهررازمرستي تیاری وښوداوماورته د(کوردي ودان) جواب ورکړ. بیامي نوخپل مطلب داسي ورته بیان کړ:

- زه راغلی یم چي ستاسي په کتابتون کي د( Armin Vambery )ارمین ویمبري دختیځونسخوکلکسیون وګورم. تاسي راسره څه مرسته کولای سئ ؟

ځوان په جواب کي راته وویل چي ارمین ویمبري رشتیاهم له دې کتابتون سره دزړګونوټوکوپه شمېرمرسته کړې ده . نوروکسانوهم مرستي کړي دي . دویمبري دمرسته سویوکتابوکتلاګ له بده مرغه جوړسوئ نه دئ.له هماغي بلي مېرمني څخه یې دیوې جعبې دراوړلو غوښتنه وکړه اوهغې هم راوړه. دکتابتون دکتابوکارډونه پکښې وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان راته وویل چې له ۱۹۸۲ ع کال وروسته چي کوم کتابونه دلته راغلي ، هغه آنلاین رجسترسوي دي ، خوتردغه کال وړاندي کتابونه لاپه هماغه پخواني سیستم باندي دکارتونوپه شکل تنظیم دي. هیله ده چي ستاسي یې دکتلوچم زده وي. ماپه زړه کي ورته وویل چي : زوروره ! زماخته دکوندل خان له ملکه اخیستل سوې ده. زه په اولنیو سیستمولاښه پوهېږم .شکردئ،چي له کمپیوټري سیستم څخه د استفادې غوښتنه دي نه ده راڅخه کړې. بیابه مي څه کولای ؟ زماپه کورکي اولادونه لا زماله لاسه ترپزې رسېدلي دي. ځکه شل واره دیوه سایټ دخلاصولو ، یا دیوې کمپیوټري عملیې دسرته رسولو چل را وښیي خو پردوهم قدم بیازه وازه خوله ور ته ولاړیم اوبیامي دوی ته چیغي وي ، چي هلئ ! تاسي راسئ. داځه چم په وسو؟ دوی خواران له مجبوریته ترهغوپوري راته ناست وي ، چي زه خپل مقصدته رسېږم ، بیامي نویوازي پرېږدي.


دکارتونوکتل مي له سرڅخه پیل کړل. ځوان مخکي لاراته ویلي وه ، چي ددې کارتوډېره برخه تورکي کتابونه دي اولږیې پارسي دي . رشتیاهم داسي وه.دکتاب نوم په پارسي لیکدود اولاتیني الفبا دواړو لیکل سوی و. ټول مي په دقت سره وکتل ، دزیاترونومونه مي یاداښت کړل. کله چي مي دځینوکتابودکتلوغوښتنه له نومورې ځوان وکړه ، راته وېویل چي تاسي مایکروفیلم کتلای سئ اودهغه دکتلوله پاره باید اپاینټمینټ جوړسي. داپاینټمینټ جوړېدل ورځ دوې په بر کي نیسي . ماپه خبرواولیکنوکي دامتل ډېرراوړی دئ ، چي (کډې مي باریږي ، زوی مي راملاکړه ) ، اوس هماغه کانه په ماوسوه. له ناچاریه مي دهماغوکارتونوپه کتلوباندي اکتفاء وکړه ، اوددې لاندي کتابونومونه ځیني رانقل کړل چي ښایي په راتلونکي کي دنوروافغاني محققینوپه دردوخوري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکتابونونمونه:

| | |
|---|---|
| ـ تيمورنامه | عبدالله هاتفی (خوږوکه) |
| ـ ساقی نامه | عبدالنبی ابن حلف |
| ـ اکبرنامه | ابوالفضل |
| ـ عياردانش | ابوالفضل |
| ـ قصهٔ چهاردرويش | اميرخسرو |
| ـ هشت بهشت | اميرخسرو |
| ـ ديوان | اميرخسرو |
| ـ ديوان | انوری اوحدالدين علی |
| ـ پندنامه | فريدالدين عطار |
| ـ تذکره الاولياء | فريدالدين عطار |



(دهنګري دعلومواکاډيمۍ دختيځ پېژندني څانګې کتابتون)

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| ـ تاریخ نادرشاه | |
| ـ تذکره الشعراء | دولت شاه ۹۷۹هـ ق = ۱۵۷۱ع |
| ـ شاهنامه | فردوسي (شپږ بېلا بېلي نسخې، بلا تاریخ) |
| ـ گلشن ابراهیمي | فرشته |
| ـ کیمیای سعادت | غزالي |
| ـ سجه الابرار | جامي |
| ـ یوسف وزلیخا | جامي |
| ـ نفحات الانس | جامي |
| ـ بهارستان | جامي |
| ـ دیوان | جامي |
| ـ انوارسهیلي | کاشفي حسین واعظ |
| ـ اخلاق محسني | کاشفي حسین واعظ |
| ـ تاریخ نادري | میرزامهدی استرابادي |
| ـ روضه الصفا | میرخواند |
| ـ کلیله ودمنه | ابن مقفع |
| ـ مثنوي | جلال الدین رومي |
| ـ دیوان | نسیمي سید جمادالدین ؟ |
| ـ خسروو شیرین | نظامي |
| ـ اسکندرنامه | نظامي |
| ـ بوستان | سعدي |
| ـ گلستان | سعدي |
| ـ کلیات | سعدي |
| ـ دیوان | صایب |
| ـ رباب نامه | سلطان ولد ؟ |

دکارتوتولي نسخې چې ماوشمېرلې نژدې دوه سوه ټوکه سوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتورکي ژبي برخه ډېره غټه وه اوپه هغه کي د(شرح قصیدهٔ برده ) دسلیمان ابن عبدالرحمن او( نصاب الصبیان )دابونصرفراهي مي پکښې ولید.

دغه رازمي داکاډیمۍ د اورینټل څانګي په باب دالاندي معلومات ترلاسه کړل:

دهنګري پوهانوپه ۱۹۲۲ع کي دختیځوکتابودکلکسیون پر اړتیاباندي خبري کړي وي اوبیا په ۱۹۴۸ ع کال کي دوباره پرېغېدلي وو. خوددوی دې هیله هغه وخت دعمل جامه واغوستله ، چي په ۱۹۴۹ع کال کي دهنګري دعلومواکاډیمۍ له سره جوړه سوه . د اکاډیمۍ زړه ماڼۍ ، چي ددوهمي نړیوالي جګړې په وخت کي زیانمنه سوې وه ، په دغه کال له سره ترمیم سوه اودکلکسیون دخوندي کولوله پاره دلومړي پوړجنوب ختیځ اړخ وټاکل سو. ختیځ کلکسیون چي په هغه وخت کي یې ختیځ کتابتون (Oriental Library)باله ، په ۱۹۵۱ع کال کي دهنګري دعلوموااکاډیمۍ دکتابتون دیوې نوي څانګي په توګه پرانیستل سواوهمداڅانګه په هنګري کي دختیځو مطالعاتو د کتابتون اصلي منبع سوه.

ددې څانګي لومړي کارونه د لازلوراسوني (Laszlo Rasonyi) له خواسرته ورسېدل . نوموړی تورکپوه و اوله ۱۹۵۱ ع کال څخه یې تر۱۹۶۱ع کال پوري لس کاله ددغه کلکسیون دمشرپه توګه کاروکړ. ده دکتابتون ختیځه زېرمه داکاډیمۍ دکتابتون ، چي په ۱۸۲۲ع کال کي جوړسوی و، له پخوانیو برخوڅخه راغونډه کړه . دکتابواو ورځپاڼوومجلوکتلاګونه یې دالفبې په ترتیب سره واوډل . ختیځي خطي نسخې یې هم دې څانګي ته رانقل کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکاډیمۍ دغه زېرمه د هنګري پوهانو، سیاحانواوخېړونکوله بسپنوسویوکتابوڅخه منځ ته راغلې وه. خودختيځ کلکسیون اساسي برخه ددانيال زيلاګي (Daniel Szilagyi) له خطي نسخو، دډيويډ کافمان (David Kaufmann) له عبري کلکسیون، دارمين ويمبري (Armin Vamery) له کتابونواوخطي نسخو، دساندورکيګل (Sandor Kegl) او اوريل ستيين(Aurel Stein) له کتابتون اود اګناک ګولدزيهر(Ignac Goldziher) له مکاتباتوڅخه جوړه سوې ده. دڅانګي دپرانيستلوپه وخت کې دکلکسیون ټول شمېر پنځلس زره کتابونه، څه دپاسه يونيم زرخطي نسخې اويوشمېراخبارونه اومجلې وې.

ددې څانګي دآثاروپه شمېرکي د۱۹۶۱_ ۱۹۷۲ع کلونوپه ترڅ کي خورازيات بدلون راغئ. دېرآثارورته وپيرودل سول اودتبادلوي اړيکو له لاري ورته زيات شمېرموادورسېدل. په دغوکلونوکي دکلکسیون مشري دمنګوليپوه لاجوس بيس(Lajos Bese) پرغاړه وه.ترده وروسته دڅانګي مشري ايرانپوه مېرمن ايواپور(Eva Apor) ته ورسېده. ددې دمشرتوب په وخت کي دکتابتون دنشراتولړۍ ښه پرمخ ولاړه.

اوس به بده نه وي چي ددغي څانګي دلومړنيواساسي بنسټ ايښوونکواودهغوی له خوادبسپنه سويوکتابواونسخوپه باب هم لنډ وړغېږو[7]. (۱)

---

[7] دامعلومات له هغي کوچنۍ رسالې څخه په لنډ ډول راژباړل سوي دي، چي (Oriental Collection –Library of the Hungarian Academy of Science) نوميږي اوپه ۱۹۹۷ع کال دهنګري دعلومواکاډيمۍ له خوا په بوداپست کي چاپ سوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



SZILÁGYI Dániel (1830–1885)



دانیال زیلاګي (۱۸۳۰ـ۱۸۸۵ع)

ددانیال زیلاګي (Daniel Szilagyi) کلکسیون:

دانیال زیلاګي ( ۱۸۳۰ ـ ۱۸۸۵ع) دالهیاتوعالم و. دی دهنګري د خپلواکۍ جګړې (۴۹ ـ ۱۸۴۸ع) ترپای ته رسېدووروسته استامبول ته مهاجراوهورې دمرګ تروخته پاته سو. هورې یې تورکي ژبه ډېره ښه زده کړه اودتورکي ترجمان په توګه د(ملادانیال ) په نامه وپېژندل سو. له تورکي ادبیاتوسره یې مینه پیداکړه. یوکوچنی کتاب پلورنځی یې پرانیست اودتورکي خطي نسخوپه راغونډولویې پیل وکړ. دده پلورنځي خوراژرد نادرو اومشهوروخطي نسخوله امله مشهورسو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاتره علماء اوپوهان به هرکله ورته راتلل . ارمین ویمبري ( Armin vambery ) اواګناک کونوس (Ignac Kunos ) هم ځوځلي دې دوکان ته وربلل سوي و. د دانیال زیلاګي ترمرګ وروسته دي ارمین ویمبري خیریوسي ، چي دده په تلاښ ددوکان خطي نسخې دهنګري دعلومو اکاډیمۍ ملکیت وګرځېدلې . دغه کلکسیون د اګناک کونو س له خوا واردواره معرفي سو. په هغه کي پنځه سوه خطي نسخې وې ، چي په هغوکي څلورسوه اته دېرش په تورکي ژبه اونوري يې په پارسي اوعربي ژبووې . ددغه کلکسیون موادترننه پوري دختیځي څانګي دکلکسیون دتورکي نسخوزېره ګڼل کیږي . دتورکي ژبي زیاتره خطي نسخې يې دعثماني امپراتورۍ اودغه رازپه هنګري کي دعثماني واکمنۍ تاریخونه دي . په هغوکي تواریخ آل عثمان اوتاریخ انوري هم شامل دي . تردوه سوه زیاتي نسخې يې دادبیاتوپه برخه کي دي ، چي په هغوکي دتورکي شاعرانو دیوانونه ، تذکرې اودغه رازدنظامي ، فریدالدین عطارآثار شامل دي.





ارمین ویمبري (۱۸۳۲ ــ ۱۹۱۳ع)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دويمبري (Vambery) کلکسيون:

دارمين ويمبري (۱۸۳۲ـ ۱۹۱۳ع) ميراث ( دده په باب موددعوت ويبپاڼي په حواله ځيني مطالب وړاندي بيان کړي دي ) دده دزوی رستم ويمبري له خواد هنګري دعلوموااکاډيمۍ ته وبخښل سو. پخپله ارمين ويمبري دهنګري دعلوموااکاډيمۍ دمديره هيئت غړی اوداکاډيمۍ افتخاري غړی هم و. دده په کلکسيون کي شپږسوه شپېته کتابونه پراته دي چي په هغوکي شپږپنځوس قلمي نسخې دي. دقلمي نسخوزياته برخه يې په تورکي ژبه دي خوپرځنګ يې يوولس ټوکه پارسي نسخې هم سته. په هغوکي بدايع اللغات ( دنوايي تاليف) ، اودمجموعۀ محمودپه نامه دقاجاري عصردشاعرانوتذکره ( دمحمودميرزاقاجارليکنه) سته . دويمبري دکلکسيون دپارسي خطي نسخوفهرست دايوااپور( Eva Apor ) په قلم په ۱۹۷۱ع کال خپورسوی دئ.



(درويش ويمبري)

(c) ketabton.com: The Digital Library





کيګل(۱۸۶۲ـ۱۹۲۰ع)

## دکيګل(Kegl)کلکسيون:

ساندور کيګل (۱۸۶۲ ـ ۱۹۲۰ع) دارمين ويمبري شاګرد اوپه بوداپست پوهنتون کي دپارسي ژبي لومړی استاد و. دی ځوبعدي شخصيت و، ډېره شتمني يې وه اودهنګري دعلومواکاډيمۍ سره يې نژدې اړيکي درلودل. دی لومړنی سړی و، چي دنوموړي اکاډيمۍ د ترکي ، پارسي اوعربي خطي نسخوکتلاګ يې وکيښ اوداکتلاګ تراوسه لاهم داستفادې وړدئ . دی چي مړسو(۱۹۲۰ع)، خورادرنه کتبخانه يې پاته سوه ، چي يوولس زره ټوکه کتابونه پکښې وه. داټول کتابونه په ۱۹۲۵ع کال کي دده دوروريانوس کيګل (Janos Kegl) له خوااکاډيمۍ ته وبخښل سول. ددې کتابوهغه برخه چي په ختيځو ژبو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه ، داکاډیمۍ دختیځي څانګي کلکسیون ته ورنقل سول . په دغه کلکسیون کي دکیګل ترکتابو دمخه شپیته خطي نسخې په پارسي ژبه وې ، چي پرهغو باندي دکیګل دکتابتون نوري نهه پنځوس نسخې هم پرزیاتي سوې . ددغونسخو کتلاګ لا پخوا دکیګل له خوا ترتیب سوی و. په دې نسخو کي دحافظ ، انوري ، امیرخسرودهلوي دیوانونه ، دنظامي خسروو شیرین(دوې نسخې ) اودلغت پوهني ، ګرامر، نجوم اوطب په باب ځیني نسخې شاملي وې . ددغه کلکسیون ډېره لرغوني خطي نسخه ( پارسي کلیله ودمنه ) هم دکیګل په کتابتون اړه درلوده .

دهنګري دعلوموااکاډیمۍ دختیځوژبو په څانګه کي دعبري ژبي خطي کتابونه ( دکافمان کلکسیون) ،دتبتي ژبي خطي نسخې ( د کسوما کلکسیون ) ، دمنګولیایي اومنچوژبو خطي آثاراونوري په زړه پوري خطي ټوټې اوسندونه خوندي دي.

په وروستیو کلونو کي دهنګري دعلوموااکاډیمۍ ختیځي څانګي ته خورازیات آثارپیرودل سوي ، بخښل سوي اوراوړل سوي دي . اوس یې دکتابونو ټول شمېر یو لک ټوکو ته رسیږي ، چي په هغو کي یوولس زره دمجلواوجریدو کلکسیونونه اونژدې پنځه زره ټوکه خطي نسخې لري . لکه وړاندي چي هم وویل سول ددغو خطي نسخودودیزکارتي کتلاګ تراوسه لاهم داستفادې وړدئ خوهغه کتابونه چي تر۱۹۸۲ع کال وروسته کتابتون ته راغلي دي ، له آنلاین لاري څخه هم ترلاسه کیدلای سي.

ددغه کتابتون پارسي برخه بایدداافغاني پوهانوترنظرهم تېره سي، خوماچي دپښتو په آثاروپسي ودغي لیري سیمي ته داوسپني ښپلۍ په پښو کړي وې ، له بده مرغه تش لاس راستون سوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټرکاتونا( نسرین) چي موږته دپټې خزانې دبلي خطي نسخې ځرک په همدې کتابتون کي دويمبري په کلکسيون راکړی و اوکښلي يې وه ، چي دغه نسخه دچنګيزنامې په يوه هراتې نسخه کي دننه پرته ده ، ماله بده مرغه دچنګيزنامې په نامه کومه نسخه هم دکتلاګ په کارتوکي ونه موندله . په کارتوکي مي دعبدالله هاتفي دتيمورنامې ځونسخې په سترګه سوې ، خودچنګيزنامې پرنسخه مي سترګي ونه لګېدې.

دهمدې کال په اکتوبر اونومبرکي مي دارمين ويمبري دوه کتابونه ، چي (Sketches of Central Asia) او (Travels in Central Asia) نوميږي ، ترلاسه کړل . په دوهم کتاب کي مي دده دهرات دسفربيان (ځورلسم فصل ــ م له ۲۷۹مخ څخه تر۲۸۵مخ پوري) ولووست ،چي لنډيزيې داسي دئ:

ددې بيان په سرکي د " جلګۀ هرات " دښکلاپه ړغيږي اووايي داچي هرات " جنت صفات " بلل سوی دئ ،په رشتياسره هم دغه سيمه په زړه پوري سمسوره سيمه ده. وروسته نودی دهرات دمصلاوو، دمنارونو لنډه يادونه کوي اوليکي چي دی دهرات ښارته د(اراک) دروازې له لاري ننوت.وروسته دښاردبازار، دهغه داوسېدونکو ، کلا،دافغاني عسکرو ،دهغوی ديونيفورم اوتمرين په باب نسبتاً اوږدې ځرګندوني لري. وريسې دخپل نيستمن مالي حالت په باب ږغيږي اوليکي چي خپل دسپارلۍ خريې په خوغرانه خرڅ کړاودورځي ګوزاره يې په وکړه. دی مجبورو ،هغه کاروان ته معطله سي چي مشهدته دتګ له پاره يې تياري نيوله. خودنوموړي کاروان دتګ له پاره دتاکلونفروشمېر بشپړ سوی نه واوپه دې خاطرويمبري مجبورو ، چي يوځه انتظاربايدوکاږي . په دې ترڅ کي خبرېږي چي دخراسان دوالي استازی محمدباقرخان

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرات ته دځوان شهزاده (محمدیعقوبخان) دمبارکۍ له پاره راځي اوژربیرته تهران ته ستنیږي . ویمبري هڅه کوي له دغه اسنازي سره ترتهرانه پوري ملګری سي . دی استازي ته خپل مالي حالت بیانوي خوهغه غوږنه پرنیسي اوله بیابیابیادوني سره سره یې بیاهم له استازي سره دملګرتیاامکانات نه برابریږي . آخرله ناچارۍ څخه دکاروان انتظارپرځان مني . دی له هري خوامایوسه کیږي خوپه دغوسختو حالاتوکي یوازنی شخص چي دده په دادرسیږي اودده دماښام دډوډۍ له پاره په بازارکي ګدايي ورته کوي ، هغه ملااثحق نومی یوافغان دئ . دی له ملااسحق سره دشهزاده محمدیعقوبخان دربارته ورځي .

دسردارمحمدیعقوب خان په باب ویمبري لیکي چي نوموړی په چار باغ کي اوسي ، په هغه مانۍ کي چي میجرټاډ( Major Todd ) پکښې اوسېدئ . شپاړس کلن زلمی دئ چي دپلار ،امیرشیرعلیخان تر پاچا کېدلووروسته دهرات دفتح سوي ولایت دچارروواکمن ګرزول سوی دئ.پلاریې ترپاچاکېدلووروسته سمدلاسه مخ پرکابل وخوځېد چي وکولای سي دخپلونوروورونودراوړاندي کېدلومخه ونیسي.

ویمبري دمخه تردې چي له ملااسحق سره دسرداردلیدلوله پاره ټاکلي سالون ته ننوزي ، لومړی درسالې دعسکرودتمرین ننداره کوي اوهغه ډېرستایي . وروسته سالون ته ننوزي . هورېویني چي دسالون په دروازه کي یوشمېرنوکران ، عسکراوعارضین ولاړدي . دی دخپلي غتې قلندري بګړۍ اوملنګۍ قواري له برکته بې له کوم خنډه سالون ته لارپیداکوي. دسالون دننه جریان یې داسي بیان کړی دئ:

شهزاده پریوې بازولرونکي چوکۍ باندي ناست دئ . ښی اړخ ته یې وزیر(ناظرنعیم) اودهغه څنګ ته نورافسران ، ملایاناوهراتیان ناست

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. په هغوی کي امام وردي خان ایرانی هم دئ چي دکومي درغلۍ له امله له مشهد(جام) څخه هرات ته راغلی دئ.

ویمبري لیکي چي ده له خپل درویشي حالت سره سم سلام واچاوه اوشهزاده ته وروړاندي سو. ځان یې دده اووزیرترمنځ ځای کړ، وزیرېې په پښه پوري واهه اوکښېنوست. دده دي عمل حاضرین وخندول. ده لاسونه ددوعاپه شکل پورته کړل اوددوعاپه ویلوېې پیل وکړ. ددوعا ترختمېدلووروسته چي حاضرینودآمین په ویلوسره لاسونه پر خپلو ږیروباندي تېرکړل، شهزاده له خپلي چوکۍ څخه یوڅه راپورته سو او په داسي حال کي چي په ځیرځیرېې راته کتل، په لوړآوازیې وویل:

" والله بالله شماناگلیس هستید".دشهزاده دغه ناڅاپه ټوکه دحاضرینو په کټ کټ خندا باندي بدرگه سول.شهزاده له خپلي چوکۍ راوغورځېد اوزمامخ ته کښېنوست، په داسي حال کي چي دماشوم په شان یې چکچکي کولې اوگویاله خپل کشف څخه ډېرخوشحاله و، په لوړ آواز وویل:" حاجي ! قربان دي سم راته ووایه چي آیاته انگلیس نه یې اوځان دي الیش کړی نه دئ؟ " ویمبري زیاتوي : دشهزاده داحرکت دومره ماشومانه و، چي افسوس مي وکړ، ولي مي داهلک همداسي غافله پرې نښود. دی وایي ، په دغه وخت کي مي دافغانانودمذهبي تعصب ښېره په زړه ننوتله اوملامت هم نه وم.، خوپه جواب کي مي ورته وویل: تاسي پوهېږئ ، څوک چي حتی په ټوکوکي هم یوه مومن ته د کافرخطاب وکړي ، پخپله کافرکېږي. چتې(خیر) مي په لاس راکړه چي ځم پرخپله تړه باندي.

ویمبري ورپسې لیکي چي دده جدي خبرې اودنوموړي حدیث بیانولو ځوان شهزاده بالکل له پارکاله واچاوه. په ځړېدلي مغزي پرخپل ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيرته کښېنوست اوزياته يې کړه: "ماهيڅکله ديوه بخارايي حاجي دغه شان خبره نه ده ليدلې." ويمبري وايي چي ما په جواب کي ورته وويل چي"زه بخارايي نه يم بلکي استامبولی يم." وروسته نوشهزاده ته خپل تورکی پاسپورټ ورښکاره کوي. شهزاده ته دده داکااکبرخان دزوی جلال الدين خان کيسه کوي چي په ۱۸۲۰ع کال په مکه اواستامبول کي واودسلطان له خوايې تودهرکلی سوی و. دده پاسپورټ لاس پرلاس کيږي اوحاضرکسان يې اصليت تاييدوي. ترډې وروسته دشهزاده وضعه بيخي بدلون مومي. ويمبري ته ځوغران ورکوي اورخصتوي يې خوورته امرکوي چي په هرات کي داوسېدلوپه وخت کي هرکله دده حضورته حاضرسي. ويمبري ليکي چي دی وروسته ورحاضرهم سوخوددوهم وارليدني جريان نه بيانوي.

ويمبري وريسې ليکي چي داواقعه خوپه خيرتېره سوه مګرپه هرات کي دده داستوګني په وخت کي هرکله له دغه رازشکمنوپوښتنوسره مخامخ و. فارسيانو، افغانانواوهراتيانوټولودی انګرېزباله اوترټولو سخته يې لاداچي پښتنوده ته د(Eldred Pottinger) په سترګه کتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library





'I SWEAR YOU ARE AN ENGLISHMAN!'

ارمین ویمبري دهرات دوالي شهزاده یعقوبخان په دربارکي
( د ۱۸۶۳ع کال اکتوبر یانومبر )
په چوکۍ کي ناست شهزاده یعقوبخان ویمبري ته اشاره کړې اووایي:
"والله بالله شما انگلیس هستید". ویمبري، چي لاسونه یې ددوعا په شکل پورته نیولي دي ،پرمخکه ناست دئ او څنګ ته یې د شهزاده وزیر، ناظرنعیم ناست دئ.
( تصویر د ارمین ویمبري د Travels in Central Asia له کتاب ۲۷۸مخ څخه کاپي سوئ دئ )

پاڼنجرهغه څوک و، چي دوه واره هرات ته داسونودسوداګرپه توګه ننوتلی وخوورو سته دهرات آمرسو.
ویمبري هغه وخت هرات ته رسېدلی دئ چي دغه ښارڅه موده وړاندي دامیردوست محمدخان دلښکروله خوافتحه سوی او پخپله امیرله دې فتحي سره جوخت جامې کت کړي دي اوپرځای یې زوی دامیرشیرعلیخان په نامه پاچاسوی اودهرات اداره ددغه نوي امیرد مشرزوی یعقوبخان پرغاړه اچول سوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويمبري هرات ته دورتګ دقيقه نېټه نه بيانوي خودوتلونېټه يې د۱۸۶۳ع کال دنومبر پنځلسمه ښوولې ده (۲۸۲مخ) . ده پخپل يوه بل اثر (Sketches of Central Asia) کې ليکلي دي چې په هرات کې يې شپږاووني تيري کړي دي (وګ: ۳۲۵ مخ) نوله دې څخه ثوک نتيجه اخيستلای سي چې هرات ته به د۱۸۶۳ع کال داکتوبرپه سرکې رسيدلی وي. هرات داميردوست محمدخان له خوا د۱۹۶۳ع کال دمی پر۲۷مه = ۸ ذيحجه ۱۲۷۹هـ ق ترڅه کم يوکال کلابندۍ وروسته ونيول سواواميرپخپله د۱۸۶۳ع کال دجون پرنهمه = ۲۱ذيحجه ۱۲۷۹هـ ق مړ سو. په دې حساب نوويمبري دهرات ترفتحې څلورمياشتې وروسته دغه ښارته رسېدلی دئ. دغه وخت چې ويمبري په هرات کې دئ ، دده له قوله دتېرې جګړې ( داميردوست محمدخان اودهرات دواکمن سردارسلطان احمدخان ترمنځ دجګړې) بيانونه لاپه خلکوکې تاوده دي. دويمبري مشهدات ددغه وخت ديوه عيني شاهدليوني کتني دي. دی که څه هم له پښتنوسره جوړنه دئ ، وحشيان اولوټماريې بولي خو بياهم ليکني يې دحالاتوديوه نږدې کتونکي په توګه دپاملرنې وړدي اوزه يې هم په همدې نيامت يوه برخه رانقلوم[8]. ويمبري ليکي چې د هرات ښارورته ډېرتياره اوله ستونزوډک ښکارېدی. دخلکوپه څېرو کې دوحشي فاتحانودظلمونواغېزې نقش وې . هرځای دوروستي اشغال اولوټ وتالان کيسې کېدلې. د هراتيانوپه نظر، دوست محمد خان دهرات کلادکابليو(مقصديې د

کابل داميرلښکردئ . م . هـ ) په توره ونه نيوله ، بلکې دهراتي لښکرديوې برخې دخيانت له امله په لاس ورغله. دوی ټينګارکاوه چې

[8] دامشاهدات زمادحاضري ليکني له عمومي هدف سره چنداني سرنه خوري خولوستل به يې يومخيزه بې ګټې نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پردوی باندي ګران شهزاده سلطان احمدته زهرورکړه سوه۹اومړسو. زوی يې شهنوازخان ، چي پرهراتيانوترانداز‌ي زيات ګران و، هغه وخت دلښکرپه خيانت خبرسو، چي داميردپلټنويوه زياته برخه تقريباً کلاته داخله سوې وه . دبندي شهزاده اودهغه دخسرترمنځ دمجادلې تريخوالی دويلووړنه و. ترټولوسخت حالت هغه لوټ اوتالاوه چي تراشغال څوورځي وروسته پيښ سو. دانوهغه وخت دئ چي له کوروڅخه تښتېدلي هراتيان بيرته له خپلوشتمنيوسره ښارته ورننوتل اوورسره سم يې څلورزره افغاني عسکر(مقصديې داميردوست محمدخان لښکريان دي. م. هـ ) چي دهمدې مقصدله پاره له بيلابيلو قطعاتواوقبيلوڅخه ټاکل سوي وه ، ښارته له بيلابيلوخواوو څخه پربې دفاع ښاريانوباندي ورتوی سول. ويل کيږي چي هغوی نه يوازي کالي ، وسلې اونورسامانونه اخيستل بلکي هرڅه چي به يې په مخه ورتلل ، لوټول يې . خلک يې مجبورول چي لڅ لغړسي اودغه لڅ لغړښاريان يې په تشوکوروکي پرېښوول . دوی دناروغانوبسترې لاورڅيري کړې. دزانګودکوچنيانو جامې څني وکښلې. ويمبري ليکي : يوه ملا ، چي هرڅه يې لوټ سوي وه ،کيسه کوله چي له ده سره شپيته ټوکه خوراښکلي خطي کتابونه وه چي ټول يې څني يووړل. په هغوکي يې هغه قرآن دِ برارمان و، چي نيکه يې وربخښلی و. ده له لوټماروڅخه غوښتي وه چي دغه يو کتاب ورپرېږدي څکه ده له خپل نيکه سره وعده کړې وه چي دتلاوت په وخت کي به دوعاورته کوي . خوکابلي ورته ويلي وه :" زه په کورکي کوچنی زوی لرم ، هغه به ددغه قرآن دتلاوت پروخت دوعاورته وکړي...."

ويمبري تردې کيسووروسته لږڅه واقعبين کيږي اوليکي : " په حقيقت کي دادهري جګړې طبيعي نتايج دي چي حتی په متمدينو

---

[9] سلطان احمدخان د ۱۸۲۳ع کال داپريل پرشپږمه= روژه ۱۲۷۹هـ ق کي مړسو اوزوی يې شهنوازخان دهرات واکي په لاس کي ونيولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیوادوکي هم پیښیږي اوله هغه څخه موږبایددافغانانوپرخلاف د افراطي ترټني یوه موضوع جوړه نکړو .ٌ(۲۸۱مخ) . دی زیاتوي چي دخواشینۍ خبره داده ، ددې پرځی چي اوس دهراتیانوپرتېپوباندي پتې کښېښوول سي ، داسي ښکاري چي هدف یې دګدایي تردرجې پوري دهغوی نورهم خوارول وي. په داسي یوه سیمه کي چي واکمنان یې بې له شکه غواړي مهم رول ولوبوي ، دوی ته اوس تربل هرچاپه کرکه کتل کیږي. هرات اوس دیوه بې تجربې اوبذله ګوهلک په لاس کي دئ. دده روزونکی،دجمشید یانوخان (مرادیې دیعقوبخان خسردئ.م .هـ ) له ترمنوسره تفاهم ته رسېدلی دئ چي دیرغلونوپه صورت کي به ددې ځای محافظت کوي. ترکمنوخپلي لوټماري ډلي دهرات څوميلۍ ته راغځولي دي . پرکلیوباندي ناڅاپي داړې وهي ، لوټوي یې او اوسېدونکي یې له ځانوسره بندیان بیایي.

دشهزاده وزیر، چي ناظرنعیم نومیږي ، داسي سړی دئ چي په دوو میاشتوکي یې ځان دومره شتمن کړ، چي په کابل کي یې دځان له پاره دوه کورونه له باغچوسره یوځای رانیول. ده ټول وخت پرځان باندي دعوه جلبان راټول کړي وي[10]. دی ژربې حوصلې کیږي اوکله چي د نوي جوړسوي حکومت په باب ده ته پوښتني اوعریضې ورسیږي ، دی دمخه لاتیار جوړسوی جواب لري: ٌ هرچه پیش بود ٌ. یعني دادپخوا لانجې دي په موږاړه نه لري. دی دومره هېرجن دئ چي کله وده ته دکوم قتل یا غلا قضیه وړاندي سي،دی بیاهم هماغه پخوانی جواب تکرار کوي : ٌ هرچه پیش بود ٌ . دګډوډۍ ډېرڅرګند ثبوت دادئ چي ځوان سردارله پرله پسې حوالوسره سره نسې کولای دهرات ولایت مالیه را

[10] دعوه جَلَب هغه چاته ویل کیږي چي په نورو خلکوناحقه دعوې کوي. په انګریزي کي ددې کلمې له پاره( litigant & place hunter )لیکلی دئ چي ماپه دعوه جلب ترجمه کړم. هـ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوله کړي . دا مالیه دده دټولوملکي لګښتونواودقشلې دعسکرو ( ۱۴۰۰تنه ) مصارف پوره کولای سي ... خودهرات ولایت حکومت اوس له دې دونه زیاتوعوایدوسره بیاهم دومره نیستمن دئ چي په سختۍ سره خپل مصارف پوره کوي . پریوه ډاربدلي ښارباندي په اسانۍ سره حکومت چلېدلای سي خودهرات اداره اوس دومره ناوړه ده چي دعسکرو د لګښتوله پاره اوس له کابل څخه مرسته غوښتل کیږي . کاشکي دوست محمدخان یوکال لانورهم ژوندی وای چي دنوي فتح سوي ولایت حکومت یې سمبال کړی وای اوله افغانستان سره به دهرات یوځای کیدل ممکن سوي وای.

ویمبري زیاتوي چي که حالات همداسي روان وي ، دخطربیره به له هره لوري راپیداسي . پرهرات باندي اوس فقط یوڅوبریده په کاردي ( مهمه نه ده چي هغه دچاله خواوي ) چي هراتیان به لومړی پرخپلو افغانانوباندي وسلې راواړوي . داکاریوازي له شیعه ګانوڅخه ، چي طبیعي ده دفارس پلویان دي ،متصورنه دئ ، بلکي حتی له سنیانو څخه هم متصوردئ ، چي تراوسنیوواکمنانوبه قزلباشان غوره وګڼي.

تردې وروسته ویمبري په هرات کې دمیجرټاډ انګلیس د فعالیتونو ثناوصفت کوي اوزیاتوي چي دیوه افغان په مرسته دګازرګاه سیمي ته ولاړی اوهورې یې دخواجه عبدالله انصاري اودوست محمدخان قبرونه وکتل . دی لیکي چي په دغه وخت کي لاددوست محمدخان قبرلاس نه وهلی پروت و(۲۸۵مخ ) .ویمبري له هرات څخه د ۱۸۶۳ع کال دنومبرپر۱۵مه مخ پرتهران ووت (۲۸۶مخ ) . دی له مشهدڅخه یعقوب خان ته لیک استوي اوپه هغه کي ځوان شهزاده ته دهغه دزیرکتیا او فراست مبارکي وایي اوورته زیاتوي چي دی انګلیس نه دئ، بلکي در په دېوال ګاونډی یې دئ، یعني اروپایي دئ. دغه راز ورته لیکي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی یو مهربان او خوشخویه شهزاده دئ او پرځنګ یې ورته زیاتوي : " ... بل واربه ورته داسي مشوره درکړم چي که کوم څوک دمحیطي شرایطو له امله مجبوروي ستا په هیوادکي په بدل سوي قیافه سفروکړي ، هغه مه کوه چي په عام محضرکي یې پرده ورپورته کړې. " (۲۰۲مخ).

زماځخه لکه چي دویمبري تاریخي بیان اورېدسو. له دې اورېده بیانه مي مقصددادئ چي زماپه واک کي دویمبري په قلم لیکل سوي دوه کتابونه راته کوم داسي څرک په لاس نه راکوي ، چي دهغه له مخي دي څوک ووایي چي ده یعقوب خان په هرات کي کتابونه ورکړي وو. داخبره ښایي ویمبري کوم بل ځای کړې وي اوکاتونا(Miss.Katona) به له هغه ځایه پوهېدلې وي. خوزماسره اوس نه دکاتونامقاله سته ، نه هم دویمبري نورآثارچي دهغه له مخي دي دویمبري په کلکسیون کي دیعقوبخان له خوا پرسوغات سوي پټه خزانه ورغبرم. البته دی له ځان سره په دې سفرکي دخطي کتابویوه پلنډه لري چي دی یې دخپل سفر خوراارزښتناکه بریا(the most precious result)بولي او په خورا دقت سره یې ساتنه کوي ( ۲۵۷مخ) . یووخت چي هرات ته دتګ په لار کي دمرغاب له سینده پوري وزي ، دکتابودغه خورجین په دې خاطرله ځانه لیري کوي اود اوبن پر شایې ایږدي چي اوبه زیان ورونه رسوي. ( مخ). خودی له یعقوبخان څخه دخطي کتابودترلاسه کولو خبره نه کوي . دی وایي چي یعقوب خان څوغرانه ورکړه اودبیالیدني امریې ورته وکړ. له امکانه لیري نه ده چي دبیالیدوپه وخت کي به یې خطي کتابونه ورکړي وي. خوددې خبري دثبوت له پاره ما(هوتک) څه ونه موندل. لکه تاسي چي په وړاندي مخونوکي ولوستل ، دهنګري دعلومو اکاډیمۍ دختیځ څانګي په کتابتون کي دویمبري کلکسیون چي ما وکوت ، په هغه کي یوولس ټوکه پارسي خطي نسخې سته (وګ : د

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې ليکني    مخ) . خير، دابحث به سمدلاسه همدلته پرېږدم اود نويو مدارکو دموندلو تر وخته به منتظر پاته سم.

ويمبري ماته جالب اوخوراسخت سرى سړى ښکاره سو. دى يوځاى دخپل دغه اوږده اوستومانوونکي سفرپه باب وايي چي داسفرېې د هنګري دعلومواکاډيمۍ له خوا يوماموريت(mission) و( ۳ او ۴مخونه ) . داچي څه راز ماموريت و، ډېرڅرګندنه دئ . په دغو کلونوکي دافغانستان په ګډون دمنځنۍ اسياټوله سيمه په اروپايي مسافروډکه ده چي قيافې يې بدلي کړي دي اوسفرونه کوي . ويمبري يوله هغوڅخه دئ . دى چي د۱۸۶۴ع کال دجنورۍ په ۱۹مه تهران ته رسيږي ، سيده دترکيې سفارت ته ځي ( ۲۰۳مخ) ، په تهران کي د انګلستان په سفارت کي دملکې نماينده (Mr.Alison) ورسره ګوري اوداسماعيل افندي (دپارس په درباركي شارژدافير) په مرسته له پاچاناصرالدين شاه سره رسمي کتنه کوي (۲۰۴مخ). هغه ته دهرات دنيولو بلنهورکوي خوپاچا ددې خوږې مرۍ له پاره داشتهانه لرلوپلمه وړاندي کوي.په تهران کي له نوروارويايانوسره هم ليده کاته کوي. په پاى کي چي د۱۸۶۴ع کال دجون پر۴مه لندن ته رسيږي غواړي دخپل سفرداستان په انګلستان کي (Royal Geographical Society of England) ته وړاندي کړي. دى وايي چي ددې کارسپارښتنه يې دوستانوورته کړې وه (۲۰۷مخ) . خودخپل اثر(Travels in Central Asia) په سريزه کي دخپل دغه سفرپه باب ليکي :

" ... په دې خبره ټول پوهيږي چي هنګري ژبه دژبوپه هغه ډله پوري اړه لري چي التايي(Altaic) نوميږي خوداچي په هغه کي بيا په فينليندي (Finish) ښاخ پوري تړلې ده که په تارتاريک (Tartaric) ښاخ پوري ؟ يوه داسي پوښتنه ده چي دجواب انتظارباسي . دغه پوښتنه ياڅېړنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږهنګريانو ته هم له علمي اړخه اوهم له ملي نظره په زړه پوري ده او ختيځ ته زماد سفر اساسي محرک اوسبب همداموضوع وه . ٌ (vii,viii مخونه) .ما(هوتک )چي دده پردوواثارو(Travels in Central Asia) او (Sketches of Central Asia) مرورو کړ، دهنګري ژبي په باب مي دطرحه سوي جواب غوښتونکي پوښتني په برخه کي څه ونه موندل.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**